## مینه او مننه

پېـل د لـوی متعـال ښتـن پـه سـپېڅلي نامـه چـي د ارض و سـماء خـالق او مالـک دی. د ملګـرو پښـتنو پـه مینـه ، کومـک او ډاډ د لنـډو کیسـو یـو ورکـوټې ټولګـه دا ده ستاسـو تـر لاسـو ورسـېده،زۀ نـۀ غـواړم چـي د دې کتـاب پـر هـري لنـډي کیسـې تاسـو تـه د هغـې تشـریح وړانـدي کـړم، تاسـو خپلـه دا ولـولئ او بیـا پـر خپـل چاپېریـال باندي لـږ فکـر وکـړئ. د دې ټـولګي د ښـۀ او بـد پرېکـړه پـر هغـۀ چـا پرېـږدم چـي علمـي شـعور یـې د ادب پـه سـمندر کـي غـوټې وهـي، د پښـتو ژبـي خـدمت یـې پـه روح او وینـه کـي جـذب شـوی وي، پښـتو تـر ځانـه زیاتـه بـولي او د پښـتو ژبـي چـوپړ خپـل افتخار ګڼي.

د هغـو ملګـرو نومونـه زۀ دلتـه لیکـل پـه دې ضـروري ګـڼم چـي د دغـو ملګـرو پـه ډاډ او مرسـته دا ورکـوټې ټولګـه تـر چـاپ ورسـېده. لکـه ایـډوکیټ ظفـرالله بـازی ،سید عصـمت الله،خـدای نـور خـان کاسـی، نزیـر خاکسـار، شـراف الـدین کاکړ،عبدالقادر کاکړ،فضـل الـرحمن سـنګریار،علي محمـد کاکړ، مـدد ګل علیخېـل، لعـل محمـد اورکـزی، [illegible] منګـل، [illegible] آصـف خـان [illegible] قاسم خـان خلجـی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـيد عبـاس شـاه مخلـص او د سـباوون پښــتو ادبــي ټــولني کــوټي د ټولــو ملګــرو بــې لــه ځــه مطلبــه د زړه لــه تلــه مننــه کــوم. پــه خصوصــي توګــه د محمــود رشــي او د خليــل الله تصـميم ډېـره زياتــه مننــه کـوم چــي د دې ټــولګي پــه بنائسـت کــي يــې لــه ما ســره ډېرکومــک وکــړ. ستاســو د خوشـحاله او سوکاله سباوون په هيله.

**زړګی علیخېل**

سهېلي پښتونخوا کوټه اولسوالي

16,04,2017

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کرايي پتلون

د ټولي ورځي ستړيا د هغهٔ د مخ نه له ورايه ښکاره کېده، تک زېړ مخ يې لکه نارنج، وچ شونډان، نيمي ستړګي خلاصي نيمي پټي، يو وحشت ؤ د هغهٔ په مخ کي ، د سر د يوې خوا نه يې ويني اوس هم څاڅکي څاڅکي رواني وې. يو څوک داسي نهٔ ؤ چي دی دي د سړک له منځه پورته کړي او يوې غاړي ته دي يې کښېږدي. د روغتون د وړلو خو چا تصور هم نهٔ شو کولای، ولي چي د مړي معامله وه. بيا به هلته په روغتون کي پوليس والا خپلي پوښتني کوي او د روغتون عمله به خپله بابو لاله تازه کوي ،هر چا چي به ليدی نو دا يوه خبره به يې کوله چي ..... اخ، څنګه ځوان دی.

دا خو به خلګو ويل خو د پورته کېدو يې هيڅوک نهٔ ؤ. ټول سړک سر تر پايه د موټرانو څخه ډک وو ،سړک بند ؤ ،خلک راټول وو، خو صرف تماشې ته.

سهار وختي فېروز ائيني ته ولاړ خپل وېښتان يې جوړول چي زرمينه د دهٔ وکوټې ته راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



واه لالـه! څنګـه ښائسـته ښـکارې، لـه بـده نظـره دې خدای وساته.

امین، زرمینې خورکۍ.

لالـه چېـرې روان یــې لــه خیــره ؟ او دا پتلـون دې له کومه کړو ؟

ځـم نـن مـې یـو ځـای د نـوکرۍ انټـروېو ده، دعـا کوه چې دا کـار مـې وشـې نـو بیـا بـه د بابک د درملنـې کـار هم ښۀ روان شي او ستا فرمائشونه به هم پوره شي.

خـدای دې کامیـاب کـړه، هـان دا واخلـه چـای چې ځې نو یو وار بابک ته ځان ښکاره کړه.

مننــه، ښــۀ دی ورځــم. فېــروز د چــای پیالــه د زرمینې نه ونیوله او دا خبره یې ورته اوکړه.

فېـروز د ائینـې نـه لېـرې شـو او د چـای پیالـه یـې و خُلـې تـه نـزدې کـړه چـې څنګـه یـې د دېـوال پـر ګـړۍ سـترګې ولګېـدې نـو نـابېره یـې پیالـه کېښـوده او زر زر یې بوټـان پـه پښـو کـړل. تعلیمـي اسناد چې پـه یـو فـائـل کـې وو پـه بغـل کـې ټینـګ کـړو او زر د کـوټې څخـه د پـلار د کـوټې خـوا تـه روان شـو . د پـلار د کـوټې پـه یـوه کـونج کـې یـو زوړ کـټ پـروت ؤ چـې سـپین ږیـری پـلار یــې ناروغــه پــر پــروت ؤ. فېـروز د پــلار لاس زر ونیــوو او ښکل یې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابکه دعا راته کوه........ نن مې انټروي ده، ډېره ښهٔ نوکري ده، تهٔ دعا راته وکړه چې خدای مې کامیاب کړي.

پلار غریب یې په اشاره کې د دعا غوندي لاس پورته کړو، فېروز زر د پلار لاس پرېښودو او د کور د ورهٔ خوا ته روان شو، خو زرمینې پسې غږ کړو چې

لاله ودرېږه، یو وار سپېلني درته دود کړم بیا ولاړ شه.

دهٔ زر په غږ کړو چې

نهٔ خوري، پر ما ناوخته دی د کلي بس رانه ځي.

خور غریبه یې تر دروازې پوري ورغله خو فېروز تللی ؤ.

فېروز او زرمینه یو خور او ورور وو. مور یې تېر کال له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې وې. پلار یې له تېرو ځلورو کالو راهیسې پر بستره ؤ. هیڅ یوه درملنه یې نهٔ کېده. یوه د چوکیدارۍ کچه (خامه) نوکري یې وه هغه هم د دهٔ د ناروغۍ له سوبه د دهٔ د لاسه وتلې وه. خور زرمینې به یې د ښځو جامې جوړولې او د کور ګزران به پرې کېدو. فېروز ډېر قابل ځوان ؤ. هغه په انګلیسي (انګرېزي) کې ماسټر کړی ؤ. سهار به د روزګار په لټون او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـا زدیګر بـه یـې پـه کلـي کـي ماشـومانو تـه د ښـوونځي درس ( ټیوشـــن ) ورکولـــو. د درس پـــه پیســـو بـــه یـــې د پلار د رملنه کوله.

څـو ورځـي مـخ کـي پـه یـوه ورځ پاڼـه کـي د یـوې نــوکرۍ اشــتهار لګېــدلی ؤ. دۀ پــردې خپــل تعلیمــي اســناد جمـع کـړل. بیـا دغـه ؤ چـي تېـره ورځ د کلـي د خـان د کـور پـر پتـه دۀ تـه د انټـروي لیـک راغلـی ؤ. دۀ د دې نـوکرۍ پـه هکلـه هیچـا تـه هـم نـۀ ؤ ویلـي. بـس دغـه ؤ چـي سـهار یـې خپلـي کشـري خـور زرمینـې او پـلار تـه وویل.

فېـروز چـي څنګـه لـه کـوره ووتـی نـو د کلـي بـس هـم لـه خلګـو ډک را ورسـېدی. فېـروز هـم د بـس د شـا پـر پــایو ( ســېرېو، پوړو ) ټــال شــو او بــس د ښــار پــه خـوا روان شو.

تقریبـاً نهــه (۹) بجـې بـس ښـار تـه ورسـېدو. د دۀ انټـروي پـر لـس بجـې وه، خـو بیـا هـم دۀ دا نـۀ غوښـتل چـي د ی دې یـوه دقیقـه هـم ځنـډ وکـړي. خیـر د دوتـر مـخ تـه ناسـت پـه انتظـار لـس بجـې شـوې. د دوتـر نـه یـو بـابو را ووت او د ی یـې د ننـه دوتـر تـه بوتلـو. تقریبـاً پـــنځلس (۱۵) دقیقـــې وروســـته فېـــروز د دوتـــر نـــه را ووت. پـر مـخ یـې ډېـره پرېشـاني وه. پـه کـراره کـراره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړک په غاړه یوې خوا ته روان شو. خپل ټول اسناد یې د فائل نه راویستل او یو یو یې د شکولو سره غورځولو. اخر ټول اسناد ختم شول، فائل یې هم وغورځوو. د کرب او پرېشانۍ په وجه یې رڼ رڼ اسمان ته کتل او مخ په وړاندې روان ؤ. کله به یې د پتلون په جېبونو کې لاسونه واچول او کله به یې په سر اونیول. د پتلون د قمیص (شرټ) بټنان یې خلاص کړل خو داسې ښکارېدو لکه زړهٔ چې یې ډېره زیاته تنګي کوي. په دغه فکر کې ؤ چې ناڅاپه له یوې خوا یو تېز موټر راغی او دی یې په مخه کړو. د دهٔ سر او وږه د موټر د مخ په یوه کونج کې په زوره ولګېدل. دی سیدها د سړک و منځ ته وغورځېدو او په هغه ساعت یې ساه وختله. موټر والا بالکل د یوې دقیقې د پاره هم نهٔ ودرېدو. خلګ راټول شول، چا څهٔ چا څهٔ ویل خو دا یوه خبره ډېره کېده چې اخ، څنګه ځوان دی.

په دې خلګو کې د دهٔ د کلي یو ځوان او د هغهٔ د ښار ملګری هم راغلو چې وګوري څهٔ کیسه ده.

څنګه چې دې ځوان فېروز ته وکتل نو یې د خُلې نه ووتل چې دا خو فېروز دی. ملګري یې ورته وویل چې، تهٔ دا پېژنې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هــو، دا زمــوږ د کلــي دی، ماخوســتن مالــه راغــی چې ستا پتلون ماته په کرایه راکړه زهٔ سبا یــو ځای روان یم.

03,09,2015
کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوند

هغـهٔ لیـونی نـهٔ وه، نـهٔ هغـې دالـه قصـده کولـو او نـهٔ هغـهٔ روې "شیشـکه" وه،خلګـو پـه هغـې د روي نـوم ایښـې ؤ، صـرف پـه دې وجـه چـې هغـه ډېـره حیـاداره او بـاپرده وه،پـه دومـره کـم عمرکـې هغـه هـم دومـره ښائسـته، پاکـه او دکهـول یـوازنی پېغلـه وه، مـوریـې د دې پـه ماشـومتوب کـې لـه دې فـاني دنیـا څخـه سـترګې پټـې کـړي وې،پـرپـلاریـې ټولـه ورځ د بـل پـه مـزدوری کـې ماښـام کېـده، ګـل مکـی تـه شـپږ مرکـې ناسـتې وې،حالانکـه د ګـل مکـی عمـر صـرف دیـارلس (۱۳) کالـه وو. دا هـم پـه دغـهٔ کـال کـې پېغلـه شـوې وه. ګـل مکـی پـرپـلار ډېـره زیاتـه ګرانـه وه. ګرانـه بـه ولـې نـهٔ وه، دا خـود زعفـران اکـا یـوازنی لـوروه چـې پـه ډېـر نـازاو نخـرو پېغلتـوب تـه رسـېدلې وه.زعفـران اکـا د ګـل مکـی د مرکـو نـه ډېـر پرېشـان ؤ. د کلـي ښـهٔ ښـهٔ کـورو مرکـې ورتـه رالېږلـي وې، ښـهٔ ښـهٔ ولورونـه یـې ورکـول خـو زعفـران اکـا و هـر یـوه تـه دا خبـره کولـه چـې ګـل مکـی لا وړه ده، خـو بیـا هـم زعفـران اکـا د لـور پـه پېغلتـوب ډېـر پرېشـان ؤ. یـوه ورځ زعفـران اکـا چـې ډېـر سـاده او پـه هـر کـار کـې د مـلا څخـه مشـوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضروري ګڼله د کلي و ملا ته چي په صوفي ملا مشهور ؤ ورغلی. هغه ته يې خپله ستونځه بيان کړه، چي لور مي له خيره پېغله شوې ده، زۀ ټوله ورځ د کار پسې وتلی يم، و لور ته مي شپږ مرکې ناستي دي،هغۀ زما د اکا زوی ختو وايي چي بل وادۀ وکړه، تۀ يوه مشوره راکړه چي زۀ څۀ وکړم ډېره لويه پرېشاني ده.

ملا صوفي د دۀ خبره ډېر په غور سره واورېده. د ښۀ فکر کولو وروسته يې ورته وويل چي زعفران اکا ! خبره خو واقعي د پرېشانۍ ده، خو د الله فېصلې هم پر ځای کول غواړي که نۀ؟ که نن ؤ که سبا، لور خو به ودۀ وې، ټول عمر خو دا په کور نۀ شې کښېنوی ؟

ملا صاحب! زۀ خو هم دغي خبري ته راغلی يم، زما هيڅ سر نۀ خلاصېږي، تۀ راته ووايه چي زۀ کوم لاره خپله کړم، زۀ دويم وادۀ وکړم که اول دا لور چا ته ورکړم.

تۀ داسي وکړه چي سبا سهار له خيره راشه، زۀ به يوه نۀ يوه لار په لاس درکړم.

سمه ده ملا صاحب کور دي ودان نو بيا زۀ درڅخه ولاړم، د خدای په امان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـۀ پــه مخــه دي بنــۀ، ملا صــا حب هــم پــه ځــوا ب کي ورته وويل.

د ګـل مکـی پېغلتـوب او ښائسـت پـه ټـول کلـي کـي مشــهوره شـوی ؤ. د کلـي ځوانـانو غوښـت چـي د ګـل مکـی یـو دیـد وکـړي او د دې پـر ښائسـت د خپلـو سـترګو تنـده ماتـه کـړي. د کلي نـورو پېغلـو بیـا غوښت چـي د ګـل مکـی سـره ملګـري جـوړه کـړي. خـو ګـل مکـی د هیڅـا پـروا نـۀ درلـوده. هغـه د خپـل پـلار چـي د بـل پـه مـزدوری کـي یـې ځـان خـوړلی ؤ پـه خـدمت کـي مشـغوله وه، ګـل مکـی ډېـره هوشـیاره او حیـاداره وه. دا خپـل د راتلـونکي سـبا وون نـه بالکـل نـا خبـره وه، دا بـه څنګـه خبرېـده، دا خـو پـه هـیڅ نـۀ پوهېـده، کـه پوهېـده نـو هغـه هـم پـه دې چـي د پـلار خـدمت کـول ډېـر لـوی سعادت دی.

کلـه کلـه بـه مـا خوسـتن چـي د ګـل مکـی پـلار زعفـران اکـا ویـده شـو نـو ګـل مکـی بـه د مـور هغـه کیسـې پـه یـادي کـړې چـي هغـې بـه و دې تـه کـړي وې. یعنــي د یــو شــهزاده او ښــاپېری، د یــوه توردیــب، د ګیــدړي او زرنــدباز باچـا او د روي. ګـل مکـی تـه دا نکلونـه ټـول پـه یـاد وو. د دې پـه فکـر کـي بـه راتلـل چـي دا یـوه شـهزادګی ده، یـا دا یـوه ښـاپېری ده، او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـور دیـب پـه قیـد کـي ده. یـوه ورځ یـو شـهزاده راشـي، تـور دیـب مـړ کـړي او دا د ځـان سـره و یـوې ښائسـتې مـاڼۍ تـه بـوځي. دغـه سـوچونه د دې د ژونـد اثاثـه وو. ګـل مکـۍ ډېـره بـا احساسـه وه، د هغـې سره د پـلار په هکله ډېر احساس ؤ.

سـهار وختـي زعفـران اکـا مـلا صـاحب لـه ورغـی. مـلا صـاحب هـم ځـان داسـي جـوړکړی ؤ لکـه د شـلو کـالو ځـوان. زعفـران اکـا چـي ورتـه وکتـل نـو پـه خنـدا کـي یـې ورتـه وویـل چـي مـلا صـاحب! نـن خـو سـم ځلمی ښکاري.

مـلا صـاحب هـم سـم د لاسـه پـه ځـواب کـي ورتـه وویـل چـي زهٔ خـو یـم ځـوان، دغـه مـرات مـړي زکـام مـي یـو څـه وېښـتان را سـپین کـړي دي، ګنـې زمـا عمـر خـو تقریباً د دېرشو یا یو څه لږ بالا دی.

زعفـران اکـا هـم لـږ پـه سـوچ کـي شـو خـو زر بېرتـه خپلـي پوښـتني تـه راغـی چـي مـلا صـاحب زمـا کـار څنګـه شو؟

یاره که یوه نېکه مشوره درکړم نو بیا؟

نو بیا څهٔ، د نېک کار پسې خو راغلی یم.

ګـوره زعفـران اکـا! د نـن سـبا ځـوانـان خـاص کـر د ښـوونځي والا، دا خـو بېخـي پـه هـیڅ نـهٔ دي خبـر. بـد

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلاقه، بدعمله، ږیره او بېروتونه یې خرولي، تر ځان تېري خبري کول، په هر شي کي د دوی کار، دا د دغو ځوانانو رواج جوړ شوی دی. چېري زموږ رنګه عالمان، د خدای په لار خبر، د مسجد سره مینه کول، د قران او حدیث په لاره تلل، دا د نن سبا ځوانان چېري دا کولای شي. زما نېکه مشوره دا ده چي ښځ عالم سړي ته یې ورکړه.

دا خو ښځ خبره ده، خو دلته یوه مسئله بیا راپورته شوه.

هغه لکه څنګه ؟

هغه لکه دا چي زه به چېري د عالم پسي ګرځم، که ته دا کولای شې نو زه دا کار تا ته سپارم، ته یو ښه د قران حافظ یا عالم پیدا کړه چي زه د لور بخت ورسره وتړم.

زعفران اکا ته ولاړ شه کورته،انشاء الله تر ماسپښینه حال درکوم.

زعفران اکا هم خوشحاله کورته راغی او د لور د نصیب په هکله یې د سوچونو سیند جوړ کړو او په دې سیند کي لاهو شو.

وخت تېرېدو، ماسپښین شو، ګورو چي د زعفران اکا و کورته دوه سپین ږیري راغلل. زعفران

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکـا هغــه دواړه سـپين ږيـري د کـور پــه يـوه کوټـه کــي کښېنول. پـه هغـو کـي يـوه سـپين ږيـري خپلـه خبـره داسي پيل کړه چي ،

زعفـران خانـه! د چـا پـه کـورکـي چـي لـوريـا خـوروي د هغــه و کـور تـه بـه د دوسـتی مرکــي راځــي، موږ هم پـه دغـه هکلـه راغلـي يـو ، او ستا څخـه ستا لـور د مـلا صـوفي د پـاره غـواړو ، مـلا صـوفي ډېـر ښـهٔ عـالم دی او ورسره هغه زموږ پېش امام هم دی.

هغـه خـو سـمه ده، خـو مـلا صـاحب لـه اولـه يـو وادهٔ لـري او پنځـه شـپږ بچيـان لـري او د عمـره هـم ډېـر لـوی دی، غالبـاً تـر مـا بـه لا هـم پنځـه شـپږ کالـه مشـر وي، زما لور دا وخت د ديارلسو کالو ده.

ګـوره زعفـران خانـه! د نـن سبا پـه ځوانـانو بـاور کول کم عقلي ده، ملا صوفي ډېر ښهٔ سړی دی.

کـاکو ستا خبره پـه ګـل بدلـه، زهٔ خپلـه لـور پـه اورکـي نـهٔ شـم اچـولی، زهٔ خـو مـلا لـه د مشـورې د پـاره ورغلـی وم زهٔ نـهٔ پوهېـدم چـي مـلا بــه و ماتــه اړولــې وي. تاسـو تلای شی زما له خوا ځواب ياست.

دواړه ســپين ږيـــري بـــې لـــه څـــه خـــوراک او څښـاک ولاړل. خـدای خبـر چـي هغـو بـه مـلا صـوفي تـه څهٔ ويلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې پس ګل مکۍ ناروغه شوه. زعفران اکا د ښار و ښځو ډاکټرانو ته ښکاره کړه خو ناروغي یې ورځ په ورځ زیاتېده. ګل مکۍ ته د شپې خوب نه ورتلو. کله چې به دا پر بستره پرېوته نو ساه به یې تنګه شوه، چیغې به یې کړې. کور، ګاونډ ټول د دې د چیغو نه په عذاب ؤ. داسې وخت هم راغی چې دا به د شپې د کوره ووته، زعفران اکا به پسې ولاړو او بیا به یې په یوه کوڅه کې را ګېره کړه. ګل مکۍ په کوڅو کې چیغې وهلې. ټول کلی په خبر شو. د کلي خلګو دا څو واره د شپې لیدلې وه، هغه هم بېرسر، لڅې پښې.

ګل مکۍ په ټول کلي کې د روي په نامه مشهوره شوه. د کلي ځوانانو اوس د دې د ښائست خبرې نه کولې، اوس یې د دې د نامه یعنې د روي په هکله به یې مجلسونه کول. پېغلو د دې په هکله دا مشهوره کړې وه چې ګل مکۍ د شپې په ادیره کې ګرځي. خو دا ټولې خبرې دروا غ وې. که رښتیا ؤ نو هغه دا ؤ چې ګل مکۍ به د شپې بېرسر، لڅې پښې کړس کړس په خندا او کله بیا په ژړا د ملا صوفي د کور په خوا، خو د خپل خیالي شهزاده جمال په خاطر منډې وهلې.

15,06,2015
کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انصاف

د هغــې ســترګي لــه ډېــره ژړا ســرې اوښــتې وې، نــازک شــونډان يــې وچ او پټــرى نيــولي وې، لاســونه يـې خـداى خبـر چـي كلـه وينځلـي وو، داسي خيـرن چـي پـر سـپينو سـپينو لاسـو يـې د خيـرو ځـرمن معلومېدى، وېښــتان يــې لــه ګــرده او لــه خســه ډک وو، پښــې يــې چـاودلي لكـه يـو چـا چـي پـه چـاړه ورپـرې كـړي وي، لـه ډېره ژړا يـې غـږ ناست ؤ، هغـهٔ د حـالاتو ستم پـه مـخ مـخ وهلــې وه، او د هغــې د مــخ نــه دا هــر څــه لــه ورايــه ښكارېدل. هغه د نرينه درندګۍ ښكار شوې وه.

زمـوږ ټولنـه؟ هغـه ټولنـه چـي د چـا عـزت پـه كـي نـهٔ وي خونـدي؟ دا نـهٔ ګـوري دا د چـا لـور د چـا خـور ده، د دې بـــه هـــم د ښـــهٔ باعزتـــه ســـبا وون ارمـــان وي. زمـــوږ ټولنـــه، بـــې حســـه ټولنـــه، ظالمـــه ټولنـــه، د ســـياه ســـرو د عـــزت دښـــمنه ټولنـــه، تـــا د هغـــې ســـترګي نـــهٔ اوليدې؟ څومره خوف ؤ په كي.

د پـــوليس استېشـــن پـــه يـــوه كوټـــه كـــي خـــوفزده ناســـته، څـــومره كـــرب ؤ پـــه هغـــو ســـترګو كـــي، د هـــر نارينـــه نـــه خـــوفزده وه، خـــود بـــه خـــوفزده وه، د هغـــې ســـره د ټـــولني د يـــوه شـــريف خانـــدان يـــو شـــريف ځنـــاور ســـپين

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېـري جنسـي زيـادتي کـړې وه، د هغـې قصـور دا ؤ چـې هغــې خيــر غوښــت. د غربــت ځپلــې، د هغــهٔ انســان د زيـادتۍ پـه دام کـې راګېـره شـوې وه کـوم څـوک چـې د شپېږو لمسيانو خاوند ؤ، د شپېته کالو نـه يـې عمر تېـر ؤ، دهٔ د ظلــم او حــوس انتهـــا کـــړې وه، دی د هـــيڅ معـافي لائـق نـهٔ ؤ، خـو تهانـه دار دهٔ تـه ښـهٔ کـولچې او چـای ايښـې وې، د دهٔ پـه لاس کـې د چـای پيالـه او پـه دا بـل لاس کـې د نکـوټين زار پاشـلو والا بـل سـګرېټ ؤ. دهٔ بـه د سـګرېټ پـه کـش کـې کلـه کلـه د دې خـوا تـه پــه داســې مســکا کــې وکتــل لکــه دی چــې و دې تــه وايــې چــې ، څنګـه شـوې ؟ کـه تـا نـارې او چيغـې نـهٔ وای کـړې نـو نـن بـه پـه تهانـه کـې نـهٔ بلکـه زمـا پـه کـور کــې ناســته وې. هــر ارمــان بــه دې پـوره ؤ، خـو تـهٔ، تـهٔ بالکل جاهله يې، تا د ژوند خوندونه څهٔ ليدلي دي؟

شــانتي، لــس کلنــه شــانتي، چــې د نرينــه حــوس ښــکار شــوې وه ، داســې ناســته وه لکــه چــې د هغــې هرڅـه هرڅـه لـوټ شـوي وي. واقعـي د هغـې هـر څـه لـوټ شـوي وو. د هغـې هغـه عـزت لـوټ شـوی ؤ پـه کـوم عـزت چـې د يـوې زنـانې وقـار قـائم وي، هغـه عـزت چـې د ورونــو او پــلار شــمله وي، د مــور د لمانځــه ټکــرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، دې دا ټـول بـائللي ؤ، او د دې سـره سـره پـه دې باندې يو تور هم لګېدلی ؤ چې هغه د غلا ؤ.

د نـن سـهار کيسـه ده. شـانتي زمـوږ پـه کوڅـه کـې خيـر غوښـت. د هغـې دوه ورونـه يـو شـپږ کلـن او بـل دوه کلـن وو. د شـانتي مـور نـن ناروغـه وه. د شـانتي مامـا هغـه خپـل کيـږدۍ تـه بېـولې وه. شـانتي او د هغـې ګـوډ پـلار او دوه ورونـه پـه کيـږدۍ کـې وو. د خيـر غوښـتونکو دغـه کيږديـاني د شـتمنو خلګـو د بنګلـو تـر شـا وې. کلـه نـا کلـه بـه د دې بنګلـو د شـريف خانـدان يـو شـريف بـه د خپلـې بنګلـې د کړکـۍ نـه د دې کيږديـو منظـره کولـه. چېـرې چـې پـه کيږديـو کـې لـڅ سـر او نـرۍ جـامې پـه غـاړه مېرمنـې د کـور پـه کـارو د دنيـا نـه بـې خبـري بـوختې وې. دا سـهار د کـوره را روانـه شـوه او سـيدها زمـوږ کـوڅې تـه راغلـه. خيـر غوښـتنه دې صـرف د زيـارت پـه ورځ کولـه، دا نـوري ورځـې بـه دا پـه کـور کـې د پـلار پـه خدمت کـې وه. شـپږ ورځـې بـه د دې مـور خيـر غوښـتو او يـوه ورځ بـه دې هغـه هـم د زيـارت پـه ورځ. نـن د زيـارت ورځ نـهٔ وه، د ګـل (دو شـنبه، سـوموار) ورځ وه. دا خيـر غوښـتلو تـه راوتلـې وه، کلـه چـې دا زمـوږ کـوڅې تـه راغلـه نـو د کـوڅې پـه سـر کـې د سېټهـ محبـوب کـور تـه ورغلـه. لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـده مرغـه د سپېټهـ پـه کـور کـي پرتـه لـه سپېټهـه بـل هیڅـوک هـم نـهٔ ؤ. دې د کـور دروازه وټکوله او خیـر یې ترې وغوښتو. راکړئ د خدای په نامه........

پـه څـواب کـي سپېټهـ لـه کـوره را ووت، هغـه دې تـه وویـل چـي راشـه زمـوږ د کـور کچـرې لېـري پـه ډېـران وغورځـوه نـو بـه لـس روپـۍ درکـړم. شـانتي د لس روپـو پـه لالـچ کـي د ننـه کـور تـه ورغلـه. سپېټهـ ورتـه وویـل چـي کچـرې د ننـه پـه کوټـه کـي پرتـې دي، شـانتي هـم سـمه کـوټې تـه ننوتـه. دا څـهٔ خبـره وه چـي د انسـان پـه بڼـه یـو ځنـاور، حـوس ګیـر د دې پـه نـازک ماشـوم بـدن د ظلـم او زیـادتۍ سـترګي رډې نیـولي دي. څـه چـي پـه کوټـه کـي د شـانتي سـره اوشـو هغـهٔ د بیـانولو نهٔ دي.

شـانتي پـه ژړا د سپېټهـ د کـور نـه راووتـه. لـږ سـاعت پـس سپېټهـ هـم د کـوره پسـې را ووتو. هغـه شـانتي ژر ګېـره کـړه، او د لاسـه یـې ټینګـه ونیولـه، او سیدها یـې د علاقـې و تهـانې تـه بوتلـه. پـه لاره کـي شـانتي لـه ډېـر تکلیفـه نهٔ شوه تلـی. پـه تلـو تلـو کـي یـې دا پـــر خُلــه ؤ چـــي الـــه وی مـــوره....... الـــه وی موره..........

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته سپټهـ د شانتي خلاف د غلا کولو پرچه کاټ کړه. شانتي په تهانه کي ګونګۍ شوه، نهٔ پوهېده چي څهٔ کيسه روانه ده، نهٔ د شانتي د کور خلک په دې خبر ؤ چي شانتي دا وخت د کوم حالاتو سره مخامخ ده.

يو پوليس عسکر د اوبو ګلاس په لاس کي شانتي ته راغی، هان دا واخله، دا اوبه اوڅښه.

شانتي چي کله و ګلاس ته وکتل نو په وجود کي يې ساه راغله. ژر يې د اوبو ګلاس د پوليس والا نه واخست او په سر يې پورته کړو. اوبه نيمي د دې تر حلقه او نيمي د دې تر خُلې په ګرېوان کي رواني وې. د اوبو ګلاس تش شو، په شانتي کي ساه راغله، هغې شا اوخوا وکتل، په کوټه کي په يوه چوکۍ چي و مخ ته يې لوی ميز پروت ؤ يو غټ برېتور پوليس والا ناست ؤ. د دې په څنګ کي بل پوليس والا کوم چي دې ته يې اوبه راوړي وې ولاړ ؤ، او ميز ته مخامخ په چوکۍ هغه ظالم سېټهـ ناست ؤ کوم چا چي د دې ماشومي عزت تار تار کړی ؤ. لږ ساعت وروسته کوم پوليس والا چي دې ته يې اوبه راوړي وې هغه تللی ؤ. په کوټه کي صرف غټ برېتور پوليس والا چي برېتونه يې تر خُلې هم تېر وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بـل سېتهـ پـه خپلـه ګپـه او خنـدا بوخـت ناسـت وو. پـولیس والا سیتهـ تـه ویـل چـي، حـال مـي ورلېږلـی دی اوس به راشي.

شـانتي چـي د دروازې خـوا تـه وکتـل نـو یـې د دبانــدي خلاصــه دروازه ولیــده. دې نــاببره د دروازې خـوا تـه منډه کړه. کله چـي دا د کـوټې څخـه ووتـه نـو غــټ برېتــور پــولیس والا ورتــه پــام شــو. هغــه چیغــي کړې او د خپلي چوکۍ څخه پسې ور پورته شو.

هلکــه جینــۍ ولاړه....... هلــه وېنیســۍ...... وېنیسۍ.

دبانــدي د تهــاڼې څــه د یــو درام اواز راغــی. غــټ برېتــور پــولیس والا او آبــل عســکر چــي کلــه دبانــدي ورســېدو نــو چــي کتــل یــې جینــۍ د ګــاډی لانـدي راغلـې وه. د هغـې نـیم وجـود بالکـل د ګـاډي د تېـر لانـدي راغلـی ؤ. پـه ځمکـه تـودې سـرې وینـي پرتـې وې. د دې پــه مــخ هغــه ژړا اوس نــهٔ وه کومــه چــي لــږ ســاعت مــخ کــي وه. اوس د دې پــه مــخ خــوف، کــرب هــیڅ یــو شــی نــهٔ ؤ چــي دا دي مظلومــه ښــکاره کــړي. شــانتي پــه ډېــر خــواږه او مســکي خــوب، د دې ظــالمي ټـولني پـه تـور څـادر کـي پـټ د تـور مـخ، سـپین حقیقـت د ځان سره یوړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپېڅلې هم د تهانې شخه د بانـدي راووتـی، پولیس والا د ګاډی ډرائیور نیولی ؤ. د شانتي ماما او مور خبر شوي ؤ چي شانتي په تهانه کي ده. هغوی هم راغلل چي کتل یې شانتي په وینو لړلې په ابدي خوب ویده ده. د شانتي مور چي دا وکتل نو بې سوده شوه. ډرائیور چیغي وهلې چي ما دا نهٔ ده لیدلې. زهٔ نهٔ یم خبر چي دا څنګه مخي ته راغله. سپېڅلې هم د دې موقع څخه ګټه تر لاسه کړه او غټ برېتور پولیس والا ته یې وویل چي

تهانه دار صاحب! بوزه دا ظالم ډرائیور بند کړه. زهٔ ګورم چي شانتي ته انصاف څنګه نهٔ رسېږي.

02,05,2016

کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وسوسه

خاني ګل د سپين سري کونډې د ګټې وټې يو زوی ؤ. دی په يوه غير دولتي اداره (اين، جي، او)کي په ښۀ چوکۍ ناست ؤ. دۀ وادۀ نۀ درلود. دۀ او مور ډېر خوشحاله ژوند تېروو، خو د مور يې دا ارمان ؤ چې د زوی وادۀ ووينې. خير وخت او شپې تېرېدې، اخر د خاني ګل وادۀ هم وشو. د دۀ کور ودانه د وادۀ په اولو شپو کې د دۀ سره ډېره زياته نۀ غږېده. خو ورځ په ورځ د هغې هم د طوطي غوندې ژبه روانه شوه. داسې نۀ وه چې د خاني ګل د مور سره به په جنګو او دعوو نښتې وه، نا بالکل نا، هغۀ خو د خواښې په هکله ډېره ښۀ نږور ثابته شوه. خو د هغې د ژبې بله مسئله وه. ماته دا مسئله د ژبې نۀ بلکې د مغزو ښکارېده.

يوه ورځ خاني ګل خپل دوتر ته تلو نو يې ښځې ته وويل چې، بېګاه مې عجيبه خوب ليدلی دی چې زما فلانی ملګری په اتڼ او په خوشحالو وي. د دۀ ښځې ژر په غږ کړو چې ستا ملګري ته به څه غم رسېږي ولي چې د خوب معنی (تعبير) چپه وي.

دۀ د ښځې په خبرو څه باک را نۀ وړو او خپل کار ته روان شو. هلته د دۀ په دوتر کې د دۀ له مخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دۀ هغـۀ ملگـری چـي دۀ بېگـاه پـه خـوب لیـدلی ؤ نا سـت ؤ. سـلام دعـا نـه وروسـته دۀ د هغـه نـه پوښتنه وکـړه چـي څنگه را چکر شوی یې ستا او دوني کار ؟

هغـۀ پـه ډېـره غـمجنـه لهجـه کـي ورتـه وویـل چـي یـاره خـاني گلـه! زمـا کـوزده ماتـه شـوه. زمـا پـه نامـه چـي کومـه جینـۍ وه هغـې زمـا د رشـتې نـه انکـار اوکـړو او د مامـــا د زوی ســـره کراچـــي تـــه وتښـــتېده، اوس زۀ حېران یم چي څۀ اوکړم.

خـاني گـل حېـران شـو چـي د دۀ د ښـځي خبـره یـو پـه سـله ټهیـک ثابتـه شـوه. خـو خیـر دۀ هغـه تـه تسـلي ورکـــړه، شـــربت یـــې پـــه اوڅښـــلو. دا ورځ تېـــره شـــوه، مابښـام خـاني گـل راغـی خپـل کـور تـه، د مـړی خوړلـو وروسـته دۀ خپلـي ښـځي تـه د خپـل ملگـري افسـوس نـاکـه کیسـه اوکـړه. هغـې ژر ورتـه وویـل چـي مـا نـۀ درته ویل؟ څنگه زما خبره رښتیا شوه که نۀ؟

خاني گل هم هو ورته وکړه خو په سوچ کي شو.

سـهار بیا خـاني گـل دوتـر تـه د تلـو تیـاري نیـولې وه. ښـځي یـې ورتـه وویـل چـي آ سـړیه! کـه دي نـن تـر ټولـو له مخه هر څه اولیدل نو هغه به درسره کېږي.

دۀ پـه حېرانـي کـي پوښـتنه ځینـي وکـړه چـي څۀ؟ څۀ مطلب ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځي په ځواب کي ورته وويل چي که دي هر څه مثلاً څه ليکلي څيزونه، پيسي يا نور څه وليدل نو هغه به درسره کېږي.

دا خپلي ښځي ته په خندا وويل چي دعا کوه چي د پيسو ډکه بکسه (بيګ) ووينم.

خير دی د کوره ووت، په يوه رخشه کي کښېنستی، رخشه د لږ ساعت سفر کولو وروسته د دهٔ د دوتر مخي ته ودرېده، دهٔ رخشې والا ته خپله کرايه ورکړه، رخشه روانه شوه خو د رخشې د شا په ټاټ ليکلي ؤ چي (د هر چا خپله ونډه خپل نصيب). دهٔ دې ليکلي خط ته خاص توجه نهٔ کړه ور، خو چي کله دوتر ته ننوتو نو يې ځمکي ته پام شو، لاندي په ځمکه د زر (۱۰۰۰) روپو نوټ پروت وليدو. دهٔ ژر نوټ ته لاس کړو خو له بده مرغه هغه نوټ باد يوړو او د يوه پوډري (نشيي) مخي ته ورغی، هغه ژر نوټ راپورته کړو او يوې خوا ته يې منډه کړه، دهٔ ډېر غږونه پسې وکړو چي اې! دا نوټ زما دی، ودرېږه ګنې وهم دي، دا زما دی، دا زما دی.

خو پوډري ناري وهلې چي د هر چا خپل نصيب، د هر چا خپل نصيب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی ډېر حېران او پرېشان دوتر ته راغی، ټوله ورځ يې په سوچو کي تېره کړه، د ښځي خبره يې د م ساعت په فکر کي راتله، اخر ماښام شو، خاني ګل کورته راغی، د مړی خوړلو وروسته يې ټوله کیسه خپلي ښځي ته وکړه، ښځه يې بايد چي خفه شوې وای دا خوشحاله شوه چي مانهٔ درته ويل تهٔ زما په خبره يقين نهٔ کوې، ګوره څنګه زما خبره رښتيا شوه.

خير دا شپه تېره شوه، سهار شو، دهٔ بيا د دوتر د تلو تياري نيولې وه، ښځي يې بيا د پرون خبره ورته وکړه چي که څه دي اول اوليدل نو هغه به درسره کېږي .

دی د کوره را ووت، رخشې ته يې لاس ورکړ، په رخشه کي کښېنستی او د دوتر خوا ته روان شو، په لاره کي يو ځای ډېر رش ؤ. سړک بند ؤ، رخشې والا هم پرېشانه ولاړ ؤ، د خاني ګل سترګي د مخ د رخشې د شا په ټاټ ولګېدې، په هغه ټاټ باندي عجيبه خط ليکلي ؤ (د ښار جهاز) دهٔ ته په دې خط خندا راغله چي د صحرا جهاز يعني (اوښ) مي اورېدلي ؤ خو د ښار جهاز مي نن اول وار اوليدی، خير رش په ختمېدو شو، رخشه هم روانه شوه، چي کتل يې يو اوښ په سړک مړ پروت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ؤ. دا سړک هم په دې سوب بند ؤ، خاني ګل ډېر حېران شو چې دا څنګه کېدای شي. د رخشې په ټاټ د ښار جهاز لیکلي ؤ او دلته د صحرا جهاز مړ پروت دی. دۀ ته دا معلوم ول چې دا اوښ څنګه مړ شو ډېر ګران ؤ،ولې چې د دوتر وخت په تېرېدو ؤ. دا ورځ تېره شوه، مابښام شو،خاني ګل هم ژر ځان کورته رسوو. هغه خپلې ښځې ته دا صورتحال ویل غوښت. مړی یې وخوړه، خو خبره یې په خېټه کې جګه جګه غورځېده. ښځه یې هم په تجسس کې وه، چې نن به مې خاوند څۀ لیدلي وي. اخر هغه وخت راغی چې خاني ګل خپلې ښځې ته ټوله کیسه وکړه. د ښځې یې د خوشحالۍ نه دا هېر شو چې خوابښې ته به دوا ورکوي، ولې چې د دې خبره نن هم رښتیا شوه. خوابښې د دې په انتظار وه چې نږور به راځي او دوا به راکوي. خو نږور ورا نغله.

دا شپه تېره شوه، سهار شو، نن خاني ګل پخپله په دې فکر کې ؤ چې څۀ به ویني. ښځې یې بیا هغه خبره اوکړه، خو د خاني ګل د خُلې ووتل چې آ ښځې! داسې نۀ چې یوه ورځ د مړګ لیک وویئم، بیا به څۀ کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې په ځواب کې ورته وویل چې هغه په چپه خوا واړوه، مرګ په ژوند بدل کړه. خوخاني ګل د ځان سره په خندا خندا کې د کوره ووت.

رخشې ته یې لاس ورکړی، په رخشه کې کښېنستی او د دوتر خوا ته روان شو. بیا هغه لوی سړک بند ؤ. د موټرو نه زیات رخشو لاره بنده کړې وه. سرې، شنې، زیړې قسمه قسمه رنګا رنګ قطار در قطار ولاړې وې.

دا د رخشو والا هم عجیبه انسانان وي چې څه یې په زړۀ وي هغه د رخشې د شا په تاټ اولیکي.

لکه : ارماني دنیا، زۀ درنه لاړم تۀ دعا کوه، مینه قرباني غواړي، نانا اولامبه، زخمي زړۀ، ګوره خو په مینه، ښکلي په کې فري، شنه کوتره، صنم بې وفا، زیړ ګل، چرسي جانان، خان بیا په نشه کې دی، ګل میروائس، ګورنر راج، چا څۀ چا څۀ. عجیبه عجیبه خطونه یې لیکلي وو. خو د خاني ګل چې په کوم خط سترګې اولګېدې د هغه نه یې زړۀ ولوېدی.

د رخشې په تاټ لیکلي وو چې (مرګ حق دی، خو په کفن کې شک دی). د دۀ نه په دا وخت د خپلې ښځې خبره چې مرګ په ژوند واړوه هېره وه. رخشه روانه شوه، راغله سیدها د دوتر مخې ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړک و ابلي غاړي ته ودرېده. خاني ګل د رخشې نه را کښته شو. رخشوان ته يې خپله کرايه ورکړه، خو د سړک نه نهٔ شو اوښتی. ولي چي پر سړک باندي دا وخت د فوځيانو قافله تېرېدونکې وه. دی د سړک په غاړه ودرېدی. د دهٔ څنګ ته يو ښکلی ځوان چي ځان يې په څادر کي له يخه پټ کړی ؤ راغی. دهٔ هغه ته او هغه دهٔ ته وکتل. دې ښکلي ځوان چي کله خاني ګل ته وکتل نو مسکی شو. د فوځيانو قافله راغله، څنګه چي د قافلې د منځ موټران را ورسېدل د دهٔ څنګ ته ولاړ ځوان د موټړ مخ ته ور منډه کړه. د منډي سره سم د يوې غټې دهماکې اواز راغی. شاو خوا تک تور ګرد خور شو. د فوځيانو نيمه قافله د دې دهماکې په زد کي راغلې وه. بې شمېره فوځيان شهيدان او ټپيان شول. په عام اولس کي هم ډېر خلک شهيدان او ټپيان شوي وو. ګېر چاپېره د بارودو بد بوی، د خلکو چيغې، نارې، غوغا د قيامت ننداره جوړه کړې وه. د چا سر نهٔ ؤ، د چا پښې نهٔ وې، د چا لاسونه او د چا بالکل نيم وجود پاتي ؤ. ويني، بوی، تورګرد د ښار ښکلا ختمه کړې وه. د خاني ګل د وجود هيڅ درک نهٔ ؤ. هغه ژوندی ؤ که مړ دا معلومات تر ډېره موده چا ته نهٔ شو معلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خـانـي ګـل مـور چـي دا واقعـه واورېـده نـو پـه دې صدمه کي له دې دنيا نه يې سترګي پټې کړې.

د خـانـي ګـل ښـځه لېـونۍ شـوې وه. هغـې بـه خنـدل، د هغـې ژړا او عـام ژونـد بالکـل غائـب شـوی ؤ. هغـې بـه د ځـان سـره پـه خنـدا کـي ويـل چـي خـاني ګـل بـه اوس کـورتـه راشـي، خـدای خبـر چـي هغـه بـه نـن څـۀ ليدلي وي؟

02,05,2015
کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مبارز

هـر هغـه ښـۀ صـفت پـه دۀ کـي ؤ کـوم چـي يـو انسـان يـې پـه طلـب کـي وي. پوهـه، اخـلاق، علـم و ادب، د ديـن مبـين پـه هکلـه تـر ډېـره حـده معلومـات، پنځـه وختـه لمـونځ، د کـلام الله هـره ورځ تـلاوت، هـر چـا غوښـتو چـي د دۀ سـره تعلـق جـوړ کـړي، پـه کلـي کـي د هرچـا پـه غـم او ښـادي کـي ګـډون د دۀ د اوصـافو ښـکاره ثبـوت ؤ، خـانزاده چـي د مـور او پـلار يـوازنی نـازولی زوی ؤ ، پـلار سـرفراز خـان يـې د دوو لاسـو خـواري کولـه او د زوی خـانزاده د تعلـيم او تربيـه يـې پوره پوره خيال ساتلو.

خـانزاده د ماشـومتوب نـه ډېـر ذهـين او اخـلاق منـد ځـوان ؤ. کلـه چـي دی د لسـو کلـو ؤ نـو يـې د مـورنۍ ژبـي سـره ډېـره زياتـه مينـه پيـدا شـوه. ورو ورو د وخـت پـه تېرېدو سـره خـانزاده ځـو داسـي ملګـري تـر لاسـه کـړل کـوم چـي پـه يـوه قـام پرسـته ګونـد کـي متحرکـه وو. خـانزاده هـم هغـه ګونـد خپـل کـړو ،او د مـورنۍ ژبـي سـره سـره د قـام او وطـن پـه خـدمت کـي مـامور شـو. د وخـت پـه تېرېـدو سـره پـه ګونـد کـي د فعاليـت پـه وجـه ورتـه ورځ پـه ورځ د ترقـۍ دروازې خلاصـېدلې. پـنځلس کالـه يـې د قـام پـه ښـېګړه کـي تېـر کـړل. پـه ملـک کـي د چـاروا کي جنـګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وجه د ګونډ مشران په خپلو کورو کې نظر بند یا ملک بدر شول او قامي هلي ځلي یې بندي شوې، خو خانزاده خپل ملګري په داسي حالاتو کې هم متحرک وساتل. د قام او وطن په دفاع کې د دین مبین په نامه سیاست مدارانو او د نورو ګوند و خلکو سره به یې هر وخت دلائل ویل، حتی تر دې چې خانزاده په خپل کلي کې ډېر دښمنان او کم دوستان وموندل. د خانزاده مبارزه د قام او وطن مبارزه وه، ګوند هم ورځ په ورځ مخ په وړاندي روانۀ . د چارواکي جنګ په ختمېدو سره د خانزاده ګوند ډېر زیات متحرک شو. هره ورځ په کلیو کې غونډې، خلک دې ته تیارول چې زموږ د قام سره له ډېره وخته ناروا سلوک، او مورنۍ ژبه مو صرف تر کورونو پوري محدوده ده، دا ژبه باید چې د نورو ژبو غونډي د سرکار او دربار ژبه وګرځول شي. په مکتب کې دي د درس ذریعه شي چې بچي مو په خپله مورنۍ ژبه علم حاصل کړي. خانزاده د سیاست سره سره د ادب له لاري هم د قام غږ و نورو قامي وګړو ته رسول خپله فریضه ګڼله. په ګوند کې د خانزاده ډېر زیات احترام کېدو. هر قسمه مشوره به ورسره کېده. دۀ د قام ځوانان په قامي تحریک او مبارزه پوهه کړل. نۀ به یې شپه معلومېده او نۀ به یې ورځ، د ګوند د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرو سره به د هغو په ستونځو کي تر وروو زیات ورنږدي ؤ. يعني د ګوند ملګري به دهٔ ته تر پلار او ورور ور تېر وو. د دهٔ و فعالیت ته چي کله د نورو ګوندو خلګو و کتل نو يې دهٔ ته په خپل ګوند کي د شاميلېدو بلنه ورکړه او ورسره د هر هغه انعاماتو قول هم ورسره وکړو کوم چي و هر انسان ته ضروت وي. زما په یاد دي د دهٔ به هغو خلګو ته دا ځواب ؤ چي زهٔ خدای د دې د پاره پیدا کړی یم چي زهٔ د خپلي مورنۍ ژبي، خپلي خاوري او د قام خدمت وکړم.

څومره اخلاص ؤ د دهٔ په ځواب کي. واقعي خانزاده په قام او وطن مئین څوک ؤ. دهٔ هیڅکله هم خپله نظريه نهٔ شوه بدلولای. پر خپله نظریه کلک ولاړ ؤ.

وخت ورو ورو تېرېدو، خانزاده هم خپلي قامي مبارزې ته دوام ورکړی ؤ. دهٔ به د خپل ګوند شوارونه پر دېوالونو لیکل، کله به داسي هم وشو چي پولیس به راغلل او دی به یې تهانې ته بوتلی. بیا چي به ملګري په دهٔ خبر شو نو به یې د تهانې را خلاص کړو.

په هېواد کي د ټول ټاکني وخت راغی، خانزاده په دې ټاکنو کي د خپل ګوند د بریالیتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هکله ډېر زيات سترى شو . د خانزاده ګوند په ټول هيواد کي زياتي چوکۍ تر لاسه کړې، اوس نو د خانزاده ارمانونه په پوره کېدو وې. زما ياد دي چي دۀ به خپلو ملګرو ته ويل چي اوس موږ خپل ملي اهدافو ته نژدې شو . اوس به زموږ مورنۍ ژبه سرکاري او درباري شي. اوس به زموږ په غرونو او رغونو خپل واک او اختيار وي. اوس به موږ په دې هېواد کي يو ازاد قام يو . موږ به هر وخت خپله ازادي لمانځو .

وخت په تېرېدو ؤ . خانزاده د ګوند د ملګرو سره د قام په خدمت کي مامور ؤ چي ناڅاپه په ګوند کي يو داسي بدلون راغی چي خانزاده يې هک پک کړو . په ګوند کي د ملګرو تر منځ د مفاداتو جنګ پيل شو . د ګوند رئيس او نظرياتي ملګري چي خانزاده هم پکي ؤ يو وې خوا ته او نور مفاداتي ملګري بلي خوا ته شول. يو پر بل يې تعمتونه ويل پيل کړل. د ګوند ملګرو د يوبل و ګرېوانونو ته لاس واچوو . رشوتونه، سفارشونه منځ ته راغلل. نظريه تر پښو لاندي شوه. نظرياتي ملګري نظراندازه شول. هغۀ ملګري مختته شول کوم چي د قامي مبارزې په الف او ب نۀ ؤ خبر . تحريک په دوو برخو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقسیم شو. په داسي حالاتو کي خانزاده یوازي پاتې شو. د پلار مرګ، د مور مرګ، واړه واړه ماشومان په میراث کي ورپاتې شول او ورسره ورسره بېروزګاري هم.

زما یاد دي هغهٔ خانزاده چي ډېر ښهٔ تعلیم یافته ؤ بهکله بېلچې ته لاس کړو او کله به یې د خلګو په کورونو کي کار کاوو او کله به یې په ډېران خپله روزي کتله. د خانزاده غوندي مخلص، با همت او تعلیم یافته کارکن د خلګو د خندا شو. کله چي به خانزاده په کلي کي تېرېدو نو د کلي خلګو به پسې خبري کولې چي هغهٔ دی د قام مبارز روان دی. قام او وطن راګټي. خانزاده تر دې حده ورسېدی چي دهٔ په نشو لاس پوري کړ. د ګوند رئیس تر خپله کوره پوري محدوده شو. کله یې هم دا پوښتنه ونهٔ کړه چي زما په ملګرو څهٔ تېرېږي.

هغه ملګري کوم چي په دې ګوند کي د مفاداتو د پاره شامل شوي وو ورځ په ورځ یې مالي ترقي کوله. کله چي به خانزاده سره مخامخ شول نو به یې ورته ویل چي راځه زموږ ملګری شه تهٔ به هم په کي ترقي وکړې. زما یاد دي د خانزاده به ډېر ښکلی ځواب ؤ چي زهٔ قام دوست یم، قام دښمن نهٔ. ما دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوند په خپلو وینو تر دا ځای رارسولی دی، زهٔ هیڅکله هم نهٔ خرڅېږم. د ګوند د مشرانو د خبرو په وجه کومي چي به په ماضي کي کېدلې د دهٔ د مذهبي عالمانو سره نفرت پیدا شوی ؤ. حالانکه خانزاده خپله د ډېرو عالمانو شاګرد پاته شوی ؤ. اوس نو خانزاده حیران ؤ چي نهٔ د قام شوم او نهٔ د امام.

پلار خدای بخښلي به یې هر وخت ورته ویل چي بچیه ! دا دنده پرېږده، یو کار او کتار و ځان ته وګوره چي سبا د چا و لاس ته مجبوره نهٔ شې. زما یاد دي خانزاده به خپل پلار ته ویل چي پلاره ! تر هغو چي دا خپل لوبدلی، ترټلی قام مي په خپلو پښو نهٔ وي درولی زهٔ ځنګه کار وکړم، هان کله چي دا قام خپل ملي اهداف ته ورسېږي نو بیا تهٔ ګوره چي زما د پاره ګوند څهٔ نهٔ کوي. زما یقین دی چي ګوند به ما نهٔ هېروي.

پلار غریب یې په دې اسره کي چي زما د زوی ګوند به زما زوی لوی افسر جوړ کړي خاورو ته ولاړی.

خانزاده هم نهٔ ؤ ملامت. هغه ته د ګوند بعضي مشرانو دا اسره ورکړې وه چي ځنګه ګوند د اقتدار چوکۍ تر لاسه کړي نو اول به ستا د روزګار

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله حل کوي. خو افسوس د ګوند ملګري چې د اقتدار و چوکۍ ته ورسېدل نو خانزاده او د خانزاده غوندي نور نظرياتي ملګري يې هېر کړل.

نن و خانزاده ته د پلار خبري ورپه ياد ي شوې. هغه د کلي په يو لوی ډېران ناست دی او ماته دا خبري کوي. خانزاده وای چې کشکي ما د پلار خبره منلې وای نو نن به زۀ داسي خوار نۀ وای. د خانزاده جامې څري، لڅي پښې او ببر سر ماته مخامخ ناست دی. ما ورته د خوراک څیزونه راوړي دي خو خانزاده بضد دی چې ما له يو څه پيسې راکړه چې زۀ پوډر پرې اخلم. ټول وجود مې درد کوي. هغه بيا داسي ګويا کېږي چې ! دا نن زۀ ملګرو ته بېګانه يم، دا زما سزا ده چې ما د پلار خبره نۀ ده منلې. د دې خبري سره سم د خانزاده د سترګو اوښکي راغلې، د خوراک څيزونه يې يوې خوا ته کېښودل او د ډېران نه ولاړ شو. ما ورته ويل چې خانزاده چېري ؟ دا خو وخوره، دا مې تا له راوړي دي. دۀ هيڅ ځواب نۀ کړو را او يوې خوا ته روان شو او د کلي په يوه لويه مرداره (ګنده ) ناله کي کوز شو.

هغه تعليم يافته ځوان چې شل کاله يې د قام په خدمت کي تېر کړي ؤ ، نن څو مره بې وسه او بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستهؤ. ټول علم او ادب یې د نشو په لوګي کې دود کړیؤ. زهٔ نهٔ پوهېږم چې د دې ذمه وار به څوک وي، ګوند که د دهٔ راستي؟ او زهٔ نهٔ پوهېږم چې د خانزاده انجام به څهٔ وي.

20,01,2016
کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوړ وجود

د ۱۹۹۹ د دسمبر د ژمي يخه شپه ده. کرم خان په خپله کوټه کي وانګېټۍ ته ناست دی. د انګېټۍ و شاوخوا ته د دڅ اتهٔ (۸) ماشومانی لوښي را ټولي دي. انګېټۍ سره ده، دباندي له کوټې د سپيني واوري څادر خور دی. د دڅ مشره لور نائله چي د څوارلسو کالو ده په انګېټۍ کي د اورد بلولو په هڅه ده. د نائلې اووه خوندي چي په کي يوه يخ وهلې ناروغه ده د نائلې او د انګېټۍ په خوا متوجه دي. په کوټه کي يوه تته ډيوه دا وخت خپله اخري ساه ورکوي. د ماشومانو خوندو ترپزو يې له يخه اوبه (ګنګ) روان دي. نائلې په انګېټۍ کي څه زاړه بوټان (ګوټونه) اچولي دي، خو هغه د بلېدو نوم هم نهٔ اخلي. پلار کرم خان يې هم د څو ورځو راهيسې ناروغه دی. کار او کتاري له تېرو دوو (۲) مياشتو وچ ولاړ دی. هيڅ يو داسي لار نهٔ ويني چي هغه دي د ځان او د بچو درملنه وکړي. ماشومانو له سهار راهيسې هيڅ نهٔ دي خوړلي. په کور کي چي څه وو هغه تمام شوي وو. کرم خان هم له ډېره نيستۍ هر وخت په خشم وُ. اوس هم دی و نائلې ته په خشم وُ، خو د خُلې يې څه نهٔ باسل.

اخر د برداشت ماده يې وچاوده او پر نائلې يې خُله خلاصه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مازدیګر راهیسې په دې یوه اور اخته یې، یو اور نهٔ شي بلولای؟ دو مره بې کاره جینۍ ما په خپل ژوند نهٔ وه لیدلې، کله دا تهٔ چې یې. ټوله ورځ په کلي ورکه یې، یو بوټۍ دي کورته را نهٔ وړو، نهٔ د پلار خیال درسره دی او نهٔ د ماشومانو خوندو.

بابا! زهٔ څهٔ وکړم، بوټان لامده دي، د اورکوټۍ (ماچس، باکس) مي په تمامه کړه خو هیڅ کار نهٔ کوي.

ځواب خو دي داسي ایزده دی، خو یو اور نهٔ شې بلولای.

بابا! ما کله ځواب درکولو.

بس، بس، ډېره مخته مهٔ کېږه، د پلار مخته خبري کوې، شرم، حیا هر څهٔ دي غورځولي دي.

ما داسي کومه خبره وکړه چې تهٔ راته په قهر شوې؟

وایم خُله دي بنده کړه ګنې درولاړېږم، کرم خان په قهر کي ورته اوویل.

سمه ده، راشه بیا یې خپله بل کړه، دا میرات اور.....

د دې خبري سره سمه نائله د انګېټۍ له مخه ولاړه شوه. پلار چې یې دا وکتل نو ژر پسې را ولاړ شو. نائله یې د وېښتانو ونیوله او په مخ یې ورته څاپېړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابري کړي. د پلار چیغې شور و شوې چې، ته ماته ځواب راکوې، ماته ځواب. د دا چیغو سره نائله په ځاپېړ و هي. په کوټه کي ناست ماشومان هم چیغي شروع کړي. په کوټه کي یوه لویه واوېله جوړه شي، په دې حال کي ډیوه هم خپل انجام ته ورسېږي. ځنګه چي ډیوه ګل شوه نو په کوټه کي یوه چیغه شي. دا داسي چیغه وي لکه ځوک چي یو ماشوم په چاړه یا په یو داسي ځیز ووهي چي هغهٔ ځای په ځای شي. دې چیغي په کوټه کي خاموشي راوسته. پلار کرم خان ژر د ډیوې په خوا منډه کړه. پښه یې په یو پروت وجود کي ونښته او پرمخ وغورځېدو. خو بیا یې هم و ډیوې ته ځان ورسوو. ډیوه یې د تاخچې نه راواخسته او د انګېټې خوا ته راغی. د اور کوتې یې ترلاسه کړه، او د ډیوې په بلولو کي بوخت شو. لګیا ، لګیا اخر یې ډیوه بله کړه. د ډیوې په رڼا کي چي یې په کوټه کي وکتل نو یو سوړ وجود د دهٔ په مخ کي پروت ؤ. د کرم خان سترګي رډې راوختې. په کراریې وجود وښورو و خو هیڅ ځواب نهٔ ؤ. کرم خان چي دا وکتل نو ډیوه یې په ځمکه وغورځوله او د کوټې نه په منډه دباندي ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـوړ وجـود د چـا ؤ ؟ د نـائلې ؤ کـه د نـائلې د بلـي خـور ؤ. کـرم خـان لـه دې غمـه ځـان خـلاص کـړو او لـه کـوره وتښتېدو. خو سوړ وجود د چا ؤ ؟

سـهار د محلـې خلـګ د کـرم خـان پـر کـور راټـول وو. یـو سـوړ وجـود یـې پـه کـټ کـي اخسـتی د ادیـرې پـه خـوا روان شـول. پـه کـور کـي داسـي څـوک نـهٔ ؤ چـي د دې سـوړ وجـود پسـې یـې ژړلـي وای. ماشـومانو تـه د محلـې خلګـو د خـوراک څیزونـه راوړي ؤ او د اور نګېټـی یـې هـم ورتـه بلـه کـړې وه. ماشـومانو خپـل خـوراک کولـو او د انګېټـی و مـخ تـه ناسـت اخـوا دې خـوا یـې کتـل چـي دا خلـګ زمـوږ کورته ولي راغلي دي ؟

خـو هغـه سـوړ وجـود د چـا ؤ ؟ نائلـه څـهٔ شـوه ؟ ایـا نائله د کوره وتښتېده که خدای مهٔ کړه.......؟

21,01,2016
کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لویه ګناه

ډېرپـه کـراره کـراره د پیـر اغاجـان د حجـرې پـه خـوا روان سدو جـان چي پر مخ یې د مایوسۍ اثـار لـه ورایـه ښکارېدل، څـادر پـه وږو، تـوري څپلـۍ، تـور واسـکټ (سـدرۍ) هغـه هـم لـه ګـرده ډک، جـامې یـې خرینـي، بـس کـه ؤ نـو هغـۀ ژونـدی ؤ. د پیـر اغاجـان و هجـرې تـه ورغـی، چـي کتـل یـې د پیراغاجـان سره نـور مریـدان هم ناست ول. سدو هـم یـوې خـوا تـه د حجـرې پـه یـوه کـونج کـي غلـی خپـل پـه سـوچو کـي ډوب کښېنسـتی. پیـر اغاجـان هـم یـو وار د سـترګو پـه کونجـو کـي سـدو تـه وکتـل. بېرتـه د مریـدانو خواتـه متوجه شو.

لـږ سـاعت وروسـته مریـدان هـم یـو یـو ټـول رخصت شـول. اوس نـو یـو پیراغاجـان او سـدو جـان پـه حجـره کـي یـوازي پـاتې شـول. سـدو خپـل پـه سـوچونو کي ډوب ؤ چي پیراغاجان په غږ کړو.

سدو جانه چېري په سوچو کي ډوب یې ؟

هـان ! یـو ځـای نـۀ اغاجانـه، بـس دغسـي. سـدو نـابېره اخـوا دې خـوا وکتـل او پیـر صـاحب تـه یـې پـه سرۀ اسوېلۍ ځواب ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته زما ښنګ ته راشه، پیرصاحب و سدو ته خپل خوا ته د راتللو اشاره وکړ.

سدو هم په کراره ورولاړ شو او د یوه ناروغه غوندي د پیرصاحب ښنګ ته ورغی او مخامخ پیر صاحب ته کښېنستی.

سدو جان چې د درو ورونو تر ټولو کشر ورور ؤ، پلار یې یو کال مخ کې له دې دنیا سترګې پټې کړي وې او د مور سوری یې لا په سر ؤ. دوې خوېندې یې د اکا و زامنو ته ودې وې، چې هغه تر دۀ مشري وې. دی تقریباً د اتۀ ویښت کالو ؤ. دوه کاله مخ کې یې د خاله د لور رېښمیني سره وادۀ کړی ؤ. دی د دې وادۀ څخه خوشحال نۀ ؤ. د وادۀ نه مخ کې دۀ ډېرې ناري وکړې چې زۀ دا وادۀ نۀ کوم. خو ورونو ورسره نۀ ومنله او د رېښمیني سره یې وادۀ ور وکړی. دوه کاله په ډېره پرېشانۍ او سوچونو تېر شول. اوس نو سدو جان سم وامې شوی ؤ. په کور کې یې وخت نۀ تېرېدو. د ملګرو سره به د پخوا په شان سېلو او تماشو ته نۀ تلو. تنهائي یې په برخه شوې وه. خو یو داسې ځای ؤ چې هلته دۀ سکون موندلی شو، او هغه د پیر صاحب حجره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـور و دانــه رېښــمینه هــم د دهٔ پــه دې رویــه ډېــره پرېشــانه وه. هغــې چــې بــه هــر څــه کوشــش وکــړو چــې دا معلومــه کــړي چــې ســدو ولــي پرېشــان حــال دی نــو ســدو جــان بــه ورتــه وویــل چــې زهٔ پــه یــوه لویــه ګنــاه اختــه یــم. هغــې بــه بیــا پوښــتنه ځینــي وکــړه چــې دا څنګــه ګنــاه ده چــې کفــاره یــې نــهٔ شــي کېــدای. دهٔ بــه ورتــه ویــل چــې وخــت بــه راځــي چــې زهٔ بــه د دې ګنــاه کفــاره ادا کــوم. مــــور، وروڼــــه، ورېنــــدارګاني، خوېنــــدي ، خېــــل او خپلــوان ټــول ســدو تــه پرېشــانه وو. چــا بــه ویــل چــې رېښــمینه یــې نــهٔ ده خوښــه. چــا بــه ویــل چــې پــه بلــې یــوې جینــۍ مئــین دی، چــا بــه ویــل چــې تعویزونــه پــه شــوي دي. چا به څهٔ چا به څهٔ.

نــن بیــا د ســکون پــه لټــون د خپــل پیراغاجــان و حجــرې تــه راغلــی ؤ. پیراغاجــان دی خپــل مــخ تــه کښــېنولی ؤ. دهٔ تــه یــې پــه ځیــر ځیــر کتــل. پــه حجــره کــي بالکــل چپــه چپتیــا وه. اخرکــار پیرصــاحب دا چپتیــا ماتــه کــړه. ســدو جانــه ماتــه ووایه څهٔ کیسه ده؟

ســدو چــي ســترګي یــې پــه ځمکــه کــي ښــخي کړي وې په کراره د پیر صاحب په خوا پورته کړې.

اغاجانه ! څهٔ درته ووایم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغـه چـي سـتا پـه مـخ ښـکاري او د زړهٔ نـه دي خُلـې تـه نـهٔ راځـي، پیـر صـاحب پـه ځـواب کـي ورتـه وویل.

اغاجانـه ! ماتـه داسـي ښـکاري لکـه چـي زهٔ پـه یوه لویه ګناه اخته یم.

لویـه ګنـاه؟ پیـر صـاحب پـه دې خبـره لـږ بیـداره شو او حیران هم.

هو اغاجانه لویه ګناه.

زهٔ پوهه نهٔ شوم دا تهٔ څهٔ وایې؟

اغاجانـه ! نـهٔ پـوهېږم چـي دا زمـا وام دی او کـه رښـتیا. ماتـه داسـي ښـکاري لکـه چـي زهٔ پـه ګنـاه اختـه یـم، د دې خبـري سـره سـم د سـدو د سـترګو نـه غټـي اوښکي رواني شوې.

سـدو جانـه ماتـه سـم حـال ووایـه، مـا سـم پـه خبـره پوهه کړه چي اخر کیسه څهٔ ده؟

اغاجانـه! زهٔ تـا ثـنګـه پوهــه کـړم، زهٔ خپلـه نـهٔ پـوهېږم چـي څـهٔ کیسـه ده، تـهٔ راتـه ووایـه چـي د دې وام څه درملنه شته او که نهٔ؟

ګــوره ســدو جانــه ! تــر هغــو چــي مــرض نــهٔ وي معلـوم شـوی د دنیـا یـو طبیـب هـم درملنـه نـهٔ شـي کـولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـهٔ مـا پـه کیسـه پوهـه کـړه، کېـدا ی شـي چـي زهٔ سـتا د زړهٔ دا وام وبا سم.

اغاجانـه ! زهٔ تـا ښنګـه پـوه کـړم، زهٔ خښلـه نـهٔ پـوهٔېږم چي لـه مـا سـره څـهٔ کیسـه روانـه ده. سدو پـه سـړه اسـوېلي دا خبـره ورتـه وکـړه او د يـو سـتړي مسـافر غوندي د خپل ځایه ولاړ شو .

سدو جانه چېري؟

ځـم اغاجانـه ! لالـه ويـل چـي اغاجـان تـه وايـه مابنـام بيـا ډوډۍ تـه راشـه. زمـا د ورېـرې کـوزده ده، سـدو پـه تلـو کـي دا خبـره ورتـه وکـړه او د حجـرې نـه ووتو .

پیرصـاحب هـم پـه سـوچو کـي شـو چـي دا پـه سدو څهٔ شوي دي.

د سـدو جـان پـه کـور کـي نـن ډېـرى وو. خالـه ګـاني، تـروري ګـاني، خوېنـدي، خـورلڼي، ماشـومان، سـم د وادهٔ مـاحول ؤ. د مابنـام د لمانځـه وروسـته د سـدو مشـر وروراختـر جـان چـي د کلـي خلګـو اختـرى ورتـه ويـل کورتـه د خـوراکي څیزونـو سـره راغـى. خپلـي کـور وداني تـه يـې غـږ کـړو. هغـه سم دسـتي لکـه مينځـه ورتـه حاضـره شـوه. څیزونـه يـې و هغـې تـه ورکـړو، او د سـدو پوښـتنه يـې ترېنـه وکـړه. هغـې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب کې ورته وویل چې هغه خو له سهاره وتلی دی. اختری بېرته د حجرې خوا ته وګرځېدی. د سدو د مور په کوټه کې دوې سپین سري ناستي مجلس یې کاوه، څنګ ته یې د سدو مور پر لمانځه ولاړه وه. د سدو مور ډېره بختوره ښځه وه. هر وخت به په عبادت مشغوله وه.

اوس هم دا په لمانځه ولاړه وه چې دا سي خبره یې تر غوږ شوه چې په لمانځه نۀ شوه پوه. د رکوع په ځای سیدها سجدې ته ولاړه، او د یوې سجدې نه پس یې سلام وګرځاوه.. دا ژر را ولاړه شوه او د سپین سرو ښځو په څنګ کې کښېنسته.

آخوري ! دا تا چې اوس زما د زوی په هکله کومه خبره وکړه دا رښتیا دي؟

هو خوري ! دا رښتیا دي. زۀ خو نۀ وم خبره چې تا خپله خورځه رېښمینه سدو ته غوښتې ده. زما خو دا فکر ؤ چې تا به په پردیو کې و زوی ته جینۍ غوښتې وي.

دا تۀ څۀ وایې؟ د سدو مور په ژړا ورته وویل.

خوره ! زۀ د دې خبري شاهده یم، سپین سري ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدای شي چې تهٔ غلطه شوې يې، کېدای شي چې تا بل څوک ليدلي وي، د سدو مور خو اوس سمه لېونتوب ته برابره شوه.

کشکي دا درواغ وای، خو خوره ! اوس دا وخت د وير نهٔ دی، د دې ګناه ځان خلاص کړئ...... سپين سري د نصيحت په توګه ورته وويل.

زما خو دې کور راسپېره کړئ، اوس به څهٔ کوم، سدو جان هم نن سبا تريو تريو کېږي.... د سدو مور په ژړا ورته وويل.

بس خوري ! مشر زوی دې را وغواړه او ژر دا پرېکړه وکړه.

لږ ساعت پس د سدو مور خپلي اوښکي د ټکري په پلو پاکي کړې او د کوټې نه ووته. ماشوم يې حجرې ته ولېږی چې ورشي اختري ته غږ کړي. لږ ساعت وروسته اختری هم راغی. مور او زوی دواړه يوې خلاصي کوټې ته ننوتو او د کوټې دروازه يې د ځان پسې بنده کړه.

لږ ساعت پس اختری او مور د کوټې نه راووتو. اختری سيدها د مور کوټې ته ولاړی ، هلته ناستي سپين سري نه يې پوښتنه وکړه چې، واقعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کیسه رښتیا ده؟ هغې هم سم د لاسه پر قرآن قسم ورته وکړی. اختري هم پوخ زړۀ ته ولوېدو چي وروړ مي په ډېره لويه ګناه اخته دی.

مور غریبي يې په ژړا ورته وويل چي ! زويه اوس به څۀ کېږي؟ د سدو جان ژوند خو تباه شو.

موره! تۀ صبر وکړه . هسي هم نن د خوشحالۍ ورځ ده. خلک راروان دي خلاصه کوي. دا کیسه به سبا ته پرېږدو.

سمه ده ، خو داسي لاره يې وباسه چي زوی او نږور مي بېرته د دې کور شي... د سدو مور په ژړا ورته وويل.

اوس تاسو چاته دا خبره مۀ کوئ، تر سبا ټول په خُله لاس ونیسۍ، اختری د دې خبري سره سم د حجرې په خوا روان شو.

لږ ساعت پس په کور کي داسي ماحول جوړ شو چي هر ځای دوې یا درې ښځي ولاړي غلي غلي ږغېدلې. ټول خبر شو. که څوک نۀ وو خبر نو هغه سدو او رېښمینه وه.

رېښمینه د مېلمنو په خدمت کي لګیا په هیڅ خبر نۀ وه، خو کله کله به يې فکر وکړو چي دا ښځي ماته ولي داسي په شکمن نظر ګوري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته په حجره کې مېلمانه راغلل. د مېلمنو سره څو ښځې هم وې چې کورته راغلې. سدو هم خدای خبر له کومه راښکاره شو، د مېلمنو په خدمت کې دواړه خاوند او ښځه داسې لګیا وو لکه چې د دې کور نوکران. چې کله به د سدو مور په سدو یا په رېښمیني سترګې ولګېدې نو به غلې په ژړا شوه. د اخترې د لور خلاصه وشوه، څلور لکهه کالداري (روپۍ) یې ولور کېښود. خلک د ډوډۍ وروسته سره د دسمال ولاړل. د کور خلک، خالهګانې، ترورګانې، خوېندې، خورلڼې ټولې په کوټو سره ننوتې. نارینه مېلمانه په حجره کې سره ځای شول. سدو خپلې کوټې ته ورغی خو لږ ساعت ورسته د سدو مور د سدو و کوټې ته راغله، سدو یې د ځان سره خپلې کوټې ته بوتلی.

نن ته ځ زما په کوټه کې پرېوزه، هلته ستا په کوټه کې ښځې پرېوزي. د سدو مور و سدو ته په مینه وویل.

سدو هم بې د څه پوښتنې یوې خواته او اړې بسترې ته ځان برابر کړو او ویده شو. هلته رېښمینه پرېشانه وه چې سدو چېرې ورک شو. په سوچو سوچو خوب ورغی او ویده شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـحار چـي کتـل د کلـي مـلا ، د رېښـميني پـلار نبـي جـان اکـا ، د اختـري دوی پـه حجـره کـي د اختـري ، سدو او د ورونو سره ناست داسي خبري يې کولې.

مـلا : اختـر جانـه تـهٔ داسـي وکـړه چـي هغـه سپين سـرې راوغـواړه چـي مـوږ د هغـې نـه خپلـه پوښـتنه وکړو. کېدای شي چي بله کيسه وي.

سمه ده ملا صاحب، زهٔ يې اوس درته راولم.

اختـري ولاړ شـو او کورتـه ولاړی. لـږ سـاعت وروسـته بېرتـه کـوټې تـه راغـی او ورسـره هغـه د پـرون مانښـام سـپين سـرې هـم وه کـومي چـي اختـري تـه قسـم خوړلی ؤ.

موره ستړې مهٔ شې.

خېر يوسې ملا صاحب.

آښـه مـوره ! دا راتـه ووايـه چـي تـا واقعـي سـدو جـان د رېښـميني د مـور پـه غېـږ کـي ليـدلی ؤ چـي هغـې شيدې (پی) ورکولې.

زهٔ پـر دې خبـره قسـم کـوم. زهٔ بـه ولـي د بـل چـا کـور خرابـوم. مـا پـه دې خپلـو سـترګو اوليـدل چـي د رېښـميني مـور کومـه چـي د سـدو جـان خالـه وه خـدای دې وبخښي يې شيدو (پی) ته اچولی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـوره تـهٔ د دوی څـهٔ یـې؟ مـلا صـاحب سـوال ځیني وکړو.

زهٔ د دوی هـیڅ نـهٔ یـم. زهٔ کلـه نـا کلـه د ډېـري مـودې پـس دلتـه راشـم. د سـدو جـان مـور زمـا د پېغلتـوب نـه دینـي خـور ده. سپین سـري پـه ځـواب کـي ورته وویل.

تـهٔ دا دومـره مـوده چېـري وې؟ مـلا صـاحب بیـا سوال ځیني وکړو.

مـلا صـاحب زهٔ د تېـرو پنځـو کـالو څخـه د لـور کـره وطـن تـه تللـې وم. هلتـه لـږ ناروغـه شـوم. د سـدو مـور حـال راکـړی چـې راشـه زهٔ بـه دې دلتـه درملنـه وکړم.

سـمه ده مـوره، تـهٔ اوس تللـې شـې. مـلا صـاحب ورته وویل.

دې خبـري د سـدو پـه کـور کـي د مـاتم غونـدي ماحول جوړ کړو.

مـلا صـاحب ! اوس بـه څـهٔ کېـږي؟ اختـري د مـلا صاحب نه سوال وکړو.

څـهٔ بـه کېـږي، سـدو بـه دا ښـځه پرېـږدي. ولـي چـي دا د سـدو رضـائي خـور ده، او د خـور سـره نکـاح نـهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـي کېـدای، دا ډېـره لویــه ګنــاه ده. مــلا صــاحب پــه ځواب کي ورته وویل.

نــابېره د ســدو ســره پیــر اغاجــان هــم کــوټې تــه راغــی، پیـر اغاجـان د سلام و دعـا نـه وروسـته پـه مجلـس ځـان خبـر کـړو. اختـري نـه یـې اجـازه واخسـته چـي تـهٔ یـو وار هغــه ښــځه لا راوغــواړه زهٔ یــوه پوښــتنه ځنــي کــوم. اختـري هـم د پیراغاجـان خبـره پـر ځـای کـړه او ولاړی هغـه سـپین سـرې ښـځه یـې بیـا راوغوښـته. کله چـي سـپین سرې راغلـه نـو پیـر اغاجـان چـي ولیدلـه څـه شـک ورپیـدا شو نو یې پوښتنه ځني وکړه.

ادې! په وطن کي څهٔ حال دئ؟

څهٔ درته ووایم، مرګونه ډېر وو.

خــدای دي د مــړو ســره ښــهٔ وکــړي. دا راتــه ووایه نېک اغاجان پېژنې؟

هــو خــود یــې پېــژنم، څــو کالــه لــه مخــه لــه دې ځایه وطن ته ولاړی.

څنګه وو؟

د خدای په فضل هغه ښهٔ دئ.

کله کله ورځې؟

هــو خــود، چــي راتلــم یــو وار ورښــکاره شــوم. د لمسي تاویزونه مي پر هغهٔ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو وخت دي کېږي چي وطن ته تللې يې؟

دوه کاله کېږي.

ټول ناست خلک او ملا صاحب د دوی دواړو خبرو ته حیران وو چي دا بیا څنګه پوښتني دي.

پیر اغاجان و ټولو ته مخ راواړوی او وې ویل چي؛

دا سپین سري دروغ وایي. نېک اغاجان څلور کاله له مخه په یوه دهماکه کي شهید شو. زهٔ يې جنازې ته ورغلی وم.

ملا هم پریشان غوندي شو چي څهٔ کیسه روانه شوه.

پیراغاجان پر سپین سري مخ راواړوی او ورته يې وویل.

څله د خدای بدبختي د خلکو جوړ کورونه ورانوې. څهٔ درپیښه ده؟

د سپین سري ژبانګو بنده شوه، سترګي یې رډې راوختې، دهیڅ ویلو توان یې نهٔ درلود.

پیر اغاجان پر ملا مخ راواړوی او لږ په غصه یې ورته وویل.

او ملا صاحب! تهٔ څهٔ بلا وهلی وې چي سم د لاسه دي فیصله صادره کړه. لږ د خدایه ووېرېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـومړی خـو معلومـات وکـړه چـي دا ښـځهٔ دروا غ وا یـي که رښتیا .

پر اختري یې مخ را واړوی چي اختریـه! دا سـپین سـرې سـم دسـتي لـه کـوره وباسه او ائینده خیال کوه چي داپه دې کور کي پرې نږدې.

تـهٔ د کـور وایـې والله کـه پـه دې وطـن رانـه وګرځي. اختري په جذاباتي انداز وویل.

د کـور زنـاني چـي پـه دې خبـرو خبـري شـوې نـو ډېـري زیـاتي خوشـحالي شـوې. او یـو بـل تـه یـې سـره ویـل چـي پیراغاجـان پـه څـو خبـرو د سـپین سـري دروا غ ونیول.

د رېښـمیني د دوو کـالو پرېشـاني پـای تـه ورسـېده او د سـدوجان د زړهٔ بـوج هـم سـپک شـو او د یوې لویي ګناه نه خلاص شو.

سـپین سـرې هـم غلـې ولاړ شـوه او د کـوره ووتـه. بیـا چـا دا پـه کلـي کـي خـو لا پرېـږده پـه وطـن کـي هـم نـهٔ ولیـده. خـو دا تـر اخـره نـهٔ شـوه معلومـه چـي سـپین سري دا ولي وکړل.

21,03,2016
کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یوې شپې سفر

لــه ډېــره وختــه مــې دا خــواهش او ارمــان ؤ چــې دوبۍ تــه ولاړ شم او هلتــه ښې پیسې وګټم. د پـلار قرضې ، د مشر ورور وادهٔ او خپل سباوون ښهٔ برابر کړم.

د خــدای کارونــه دي، هغــهٔ ورځ راغلــه چــې زمــا د دوبــۍ ویـزه ولګېـده. ټول کـور خوشـحاله ؤ. خـو مـور ، مـور مــې ډېــره خفــه وه. ولــې بــه نــهٔ وه خفــه، د هغــې د زړهٔ ټوټــه ، یعنــې زهٔ د هغــې څــه جــدا کېــدلم. هغــه هــم د شــپږو کــالو د پـاره. خیـر، د دوبۍ جهازونـه پـه ټول هېـواد کې هغـه وخت د کراچې څـه تلـل. کراچې د سندهـ ولایت ډېـر لـوی ښـار دی، ولــې د کراچــې هــوائي ډګــر (ائیرپــورټ) بــین المللــې (انټرنیشــنل) ؤ. زهٔ یــو ماخوســتن د کــوټې بــس اډې تــه ورغلــم. هلتــه مــې د کراچــې د تلــو د پــاره پــه یــوه بــس کــې ټکــټ واخســتو. لـږ ساعت پـس زهٔ پـه بـس کـې ناسـت وم، او هغـه د خپـل منـزل کراچـې پـه لـور روان شـو. پـه بـس کـې بېخـې کـم خلـک ناسـت وو. زمـا د ښـک چـوکۍ خـالي وه. پـه دا بـل څنـګ کـې مـې چـې د لاري پـه دا بلـې خـوا پـه چوکیـو کـې یـوه زنانـه او ورسـره یـوه ښـکلې ماشـومه چـې تقریبـاً د څلـورو کـالو وه، ناسـت وو. بـس روان ؤ د خپـل منـزل پـه لـور. زمـا د څنـګ د چـوکۍ زنـاني کلـه کلـه زمـا خـوا تـه کتـل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومې خو بالکل له ما سترګې نۀ اړولې. ډېره ښائسته ماشومه وه. تور وېښتان، غټې غټې توري ښائستې سترګې، نازک ښکلي لاسونه، بالکل د یوې شهزادګۍ غوندې ښکارېدله. زما سره د واسکټ په جېب کې څو خوږې (ټافیانې) وې، ما یوه خوږه د جېب نه را وایسته او ماشومې ته مې ونیوله. ماشومې هم د ستې ورلاس کړو او خوږه یې رانه واخسته. ورو ورو ماشومه له ما سره مانوسه شوه. تقریباً د ځلورو ساعتو پس بس د ماخوستن ډوډۍ ته په یوه هوټل ودرېدی. زۀ هم لاندې کښته شوم. لږ هوا خوري مې وکړه، ډوډۍ ته مې زړۀ نۀ کېدو. بېرته واپس بس ته راغلم او پر خپله چوکۍ کښېنستم. چې کتل مې زنانه ویده او ماشومه ویښه ده. ما ماشومې ته خپل خوا ته د راتلو اشاره وکړه. هغه هم دستې راولاړه شوه او زما څنګ ته پر خالي چوکۍ کښېنسته. نور سوارلیان چې راغلل نو د بس کنډېکټر (کلینډر) غږ کړو چې وګورئ څوک خو پاتې نۀ دي؟ سوارلیانو هم غږ کړو چې نا درځه له خیره.

بس هم بیا د خدای په توکل د منزل په لور روان شو. ماشومه له ما سره دومره مانوسه شوه چې سمه خندا او لوبې یې شروع کړې. تقریباً د درو ساعتو پس دا هم سترې شوه. زما په څنګانه یې سر کېښودو او په خواږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب ويده شوه. ما هم څه فکر نهٔ وکړو، او په مسکې مې د ځان سره وويل چې؛ ماشوم هم د خدای له طرفه لکه فرشته داسې وي. ګوره څومره په خواږه خوب ويده ده، په دې هم نهٔ ده خبره چې دا سړی پردی دی. خو خپل ځان په هر حال کې خوشحاله ساتي. شپه په کراره تېرېده. د بس ډرائيور هم په ډېر کم اواز کې زړې اردو (هندوستانۍ) سندرې لګولې وې. ما هم خوند ځنې اخستی ؤ. ولې زما خپله داسې سندرې خوښېدې. کله کله به مې زنانه ته هم وکتل. هغې په ځان ټکری خور کړی ؤ، او داسې بې غمه ويده وه لکه چې دا په کور کې وي. د سهار سترګه ښکاره شوه، سفر اوس د يو ساعت پاتې ؤ. ماشومه زما په څنګ کې په خواږه خوب ويده او زنانه پر خپل ځای ويده وه. زما سترګې د ناخوبۍ نه سرې اوښتې وې. وجود مې هم د سفر په وجه دړد کولو. خير دا يو ساعت هم تېر شو. د کراچې بس اډې ته ورسېدو. ماشومه لا ويده وه، ما په کراره ماشومه په چوکۍ سمه کړه. زنانې ته چې مې وکتل هغه هم لا تر اوسه ويده وه. زهٔ د بس نه ښکوه شوم. خپل سامان مې تر لاسه کړو. فکر مې اوکړو چې جهاز خو نهه بجې دوبۍ ته روانېږي، دوه ساعته د ارام کولو د پاره شته. درځه چې يو ځای ارام وکړم. ما خپل سامان راواخستو، دوه يا درې قدمه مې لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـهٔ وو اخســتي چــي را پســې غــږ وشــو چــي ، اې ځوانــه! دا ماشومه دې در سنبال کړه.

ماشــومه ؟ زمــا يــو دم رايــاد شــو ، مــخ مــي زر شــاته راوګرځــوو ، چــي کتــل مــي د بــس کنــډېکټر د ماشومي سره ولاړ دی.

دا زمــا ســره نــهٔ ده. دا د خپلــي مــور ســره ده. ماځواب ورکړو.

څـهٔ وايــې؟ کنـډېکټر پـه حيرانتيـا کـي پوښـتنه رانه وکړه.

هو جانانه ! د مور سره، زهٔ يو ازي يم.

لاکـن دا خـو سـتا پســې ګرځېـده، کنـډېکټر بيـا په دې خبره حيران کړم.

وروره دا پــه ابلــي چــوکۍ ناســتي زنــاني ســره وه. هغــې لــه يــې وروړلــه، مــا لــږ د غصــې پــه اندازکــي ورته وويل.

تــهٔ ودرېــږه ! زهٔ يــې ګــورم. کنــډېکټر د بــس خــوا تــه وګرځېــدی، بــس تــه وختــی، چــي بېرتــه راکښــته شــو نـو هغـه زنانـه هـم ورسـره وه. د زنـانې مـخ نـهٔ ؤ پـټ. ډېـره ښــکلې وه. هغــه زنانــه نــهٔ بلکــې پېغلــه جينــۍ ښـکارېدله. د لـږ سـاعت د پـاره يـې زهٔ ځـان تـه حيـران کــړم. زنانــه ســيدها راغلــه زمــا مــخ تــه ودرېدلــه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومه يې د لاسه نيولې وه، او زما خوا ته يې را مخته کړه.

آ، وروره ! دا خپله ماشومه دي درګرځوه داسي نهٔ چي درنه ورکه شي. د زناني په دې عمل او خبره زهٔ هک پک شوم، حيران وم چي زهٔ څهٔ وکړم. زنانه هم د دې خبري سره سمه بلي خوا ته روانه شوه. ما زر پسې غږ کړو، چي

آ ، خوري ! دا ماشومه زما نهٔ ده، خپله ماشومه دي بيايه.

زناني زر مخ را واړوو، زما سره ؟ وروره چي ستالای يې نهٔ شې نو بيا يې پيدا کوې څله؟ او بيا يې په نورو خلکو تپې څله؟ زهٔ عزت داره جينۍ يم، دا خپله ګناه په ما مهٔ تپه.

خوره ! زهٔ په قسم وايم چي دا ماشومه زما سره نهٔ وه، زهٔ چي پرون بس ته راوختلم دا له تا سره ناسته وه. او تهٔ وايې چي دا له ما سره ده. په دې لانجه کي خلک هم پر موږ راټول شول. د بس ډرائيور راغی او ويل يې چي ما ټوله شپه تا ته په ائينه کي کتل ، دا ماشومه له تا سره وه او اوس وايې چي دا له تا سره نهٔ ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد جي ! زۀ قسم خورم چي دا له ماسره نۀ ده. زما په سترګو کي اوښکي راغلې. په زړۀ کي مي ويل چي دا په څۀ غم واوښتم. زما د دوبۍ د تلو ارمانونه، ټول خاوري کېدل.

په دې منځ کي زناني داسي خبره وکړه چي زړۀ مي بېرته راپورته شو.

ډرائيوره وروره ! د ماشومي نه پوښتنه وکړه چي دا د چا سره ده؟

زما د خُلې نه هم نا څاپه ووتلو چي ، هو، هو بالکل د ماشومي نه پوښتنه وکړه.

ډرائيور هم د ماشومي خوا ته لږ چوغ شو او په نازېې پوښتنه ځيني وکړه چي، بچيه! تۀ د چا سره يې؟ د دې خورکۍ سره که د دې ماما سره؟

ماما سله.......ماشومي په خپلي توتلۍ ژبي په معصوميت سره ځواب ورکړو.

زما دماغ کار پرېښودو. په سترګو مي توره تياره راغله. په ځان نۀ پوهېدم چي څۀ راباندي کېږي. کښېنستم په ژړا شوم، او چيغي مي کړې چي،

دا زما سره نۀ ده، دا د دې ښځي سره ده. چي کتل مي هلته ښځۀ نۀ وه، هغه غائبه شوې وه . صرف ډرائيور او کنډېکټر راته ولاړ وو. مخ ته مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومه ولاړه د سترګو نه يې غټې غټې اوښکي را رواني وې، خو ژړا يې نهٔ وه.

استاد جي ! دا يې داسي نهٔ مني. زهٔ به ورشم، پوليس والا به راولم ، هغه يې د دهٔ په پلار لا هم مني، کنډېکټر و ډرائيور ته وويل.

زما هم دا خيال دی، ورشه را يې وله.

زهٔ په هغه ځای هک پک ناست زبانګو مي بنده وه. د خُلې مي يو ګای نهٔ وتی. لږ ساعت وروسته دوه پوليس والا راغلل. يو پکي غټ برېتور زما خوا ته راغی. هغه دويم لږ اخوا ودرېدی.

آ، ډرائيوره! څهٔ کيسه ده؟

سرجي دا ماشومه د کوټې نه تر دې ځايه د دې سړي سره ده، اوس وايي چي دا زما سره نهٔ ده.

ښهٔ نو دا خبره ده. هلکه دا څهٔ وايي؟ دا ماشومه له تا سره ده؟ پوليس والا اوس زما خوا ته متوجه شو.

ما هم خپل دماغ په ځای کړی، ورته راپورته شوم، سر جي زهٔ قسم خورم چي دا ماشومه زما سره نهٔ ده . دا د يوې زناني سره وه. هغه خدای خبر چي اوس چېري ورکه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډرائیور څهٔ وایي؟ ماشومه څهٔ وایي؟ او تهٔ، تهٔ څهٔ وایې ؟ سمه خبره کوه ګنې نو د کراچي د جیل هوا درباندې خورم.

زهٔ به ولې درواغ وایم. ماته ضرورت څهٔ دی؟ زهٔ تر اوسه وادهٔ لا نهٔ لرم. زهٔ خو روان یم دوبۍ ته. تهٔ زما پاسپورټ ، ویزه او د جهاز ټکټ کتلای شې.

ښه نو تهٔ اغوا کارېې ، ماشومان غلا کوې او بهرنې هېوادو ته یې وړې. د دې واره پولیس والا پر خپل اصلیت راغی . په داسې لهجه کې یې دا خبره وکړه چې زما څخه هره لاره ورکه شوه.

هلکه ساونه !

جي سر.

دا درروان کړه تهانې ته، هلته به د دهٔ سره ګورو. خدای خبر چې نورېې لا هم څومره ماشومان غلا کړي دي. او د سرغنه به یې هم پته ولګېږي چې څوک دی.

ورسره ملګری سپاهي زما خوا ته راغی. زهٔ یې د لاسه ونیولم. ما چیغې کړې چې! زهٔ غل نهٔ یم او دا ماشومه زما نهٔ ده، خدای ته وګورئ ،زهٔ دوبۍ ته روان یم، زهٔ غل نهٔ یم، پولیس والا داسې کښېنولم لکه د ګنجه چي څوک پسه (ګډ) واخلي او بیا یې پړی په غاړه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور واچـوي او کښـوي يـې. مـا هـم چيغـي وهلـې، قسـم چـي زهٔ غل نهٔ يم، زهٔ غل نهٔ يم.

يـــو دم د کـــوټې دروازه وټکېـــده، د پـــلار دا نـاريې مـي تـر غـوږو شـوې، سـترګي مـي ناڅاپـه خلاصـي شوې،

هلکـه قاسـمه ! پورتـه شـه ،د سـهار لمـونځ قضـا کېږي، هله زر کوه پورته شه.

31,03,2016
کراچي، سندھ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انځور ګر

د کـــوټې پـــر دېوالونـــو شـــاوخوا پـــه لاس جوړشـــوي انځورونـــه لګېـــدلي وو، داســـي ښـــکارېدو لکـه چـي د کـوټې دېوالونـه د انځورونـو نـه جـوړ وي او د کـوټې چـت پـر دې انځورونـو ولاړ وي. پـه کوټـه کـي پنځـــه دېـــرش کلـــن روفـــي د رنګونـــو قلـــم او تختـــه (پليـټ) پـه لاس کـي د هـر څخـه ورک، خپـل پـه تخيـل کـــي ډوب، د رنګونـــو د ســـمندر څخـــه د خپـــل مطلـــب رنګونـه را اخلـي او يـو داسـي خيـال تـه د انځـور جامـه ورپـه غـاړه کـوي چـي د حقيقـت سـره هـيڅ تعلق نـهٔ لـري.

هغــه دومــره پــه دې انځــور جوړولــو کــي ډوب وي چــي دهٔ تــه دا احســاس هــم نــهٔ وي چــي د دهٔ پــه څنــګ کــي ډاکټـر شـير لـه نـيم سـاعته ولاړ د دهٔ پـه انځـورګري کـي د حقيقت څهره لټوي.

دی دا انځــور لــه تېــرو څلــورو ورځــو راهيســـې د تخليـق پـه پاړـه جـوړوي، خـو خداى خبـر چـي ولـي دی پـه دې انځـور دومـره خـواري کـوي. پـه دې انځـور کـي داسي څهٔ دي چي دی يې له هرڅه ورک کړی دی.

يـــاره ماتـــه يـــې دا يـــوه ســـترګه لـــړ. کـــړه ښـــکاري، ډاکټر شير د سکوت هغه دروند ماحول په طنز مات کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـان، څـهٔ، تـهٔ، تـهٔ کلـه راغلـې؟ روفـي يـودم شـاته وګـوري او د خپـل د تخليـق د دنيـا څخـه راووزي.

هو، زهٔ....

راځـه ډاکټـر صـاحب دلتـه نـزدې پـه دې چـوکۍ راته کښېنه، روفي نزدې چوکۍ ته اشاره وکړه.

يـاره روفـي، تـهٔ ماتـه دا ووايـه چې کـه مـا پـه تـا پوښـتنه وکـړه نـو ټهيـک دی، ګنـې تـاخو بالکـل د پوښـتني کولـو څخـه قسـم کـړی، ډاکټـر پـه کښېنسـتو کې د روفي نه سوال وکړ.

ډاکټـر صـاحب! ډېـره بخښـنه غـواړم، بـس لـږ مصـروفيات زيـات شـوي دي. ګنـې زهٔ او سـتا پوښـتنه نـهٔ کـول، داسـي نـهٔ شـي کېـدای، روفـي پـه مسـکا کـي ورتـه ووېـل او رنګونـه او قلـم يـې يـو خـوا تـه کېښـول، ورسره په څنګ کي په يوه چوکۍ کښېنستی.

مصـور صـاحب! د دې دنيـا راووزه، لـه کـوره دبانـدي درځـه او اوګـوره چـي د دې نـړۍ خـالق څنګـه څنګـه تخليقـات کـړي دي. تـهٔ د دې کـوټې څخـه چـي تـهٔ پـه کـي سـهار ،مابښـام ناسـت انځورونـه جـوړوې تـهٔ د دبانـدي دنيـا انځـور وګـوره، ډاکټـر د نصـيحت پـه توګـه ورته ووېل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر صاحب ضرور به وځم، بس دا یو انځور لا پوره کړم بیا چي ته هر ځای وایې زه درسره ځم، روفي په ځواب کي ورته وویل او یو نظر یې انځور ته وکتل په کوم کي چي د یوې ښځي عکس چي په اومه (کچه، خام) رنګونو جوړشوی ؤ او په هغه کي ښځه په لڅ سر، سترګي له او ښکو ډکي په مخ رواني خو څهره یې لږ مسکی غوندي په مخ کي پر سټینډ باندي پر کینوس د جوړښت په پای کي ؤ.

یاره روفي! ته د خپل تخلیقاتو ایګزیبیشن (مخ کتنه) ولي نه کوې؟ ډاکټر سوال ځني وکړو.

مخ کتنه؟ یاره دا زما په وس نه دي پرې، او بل زه خپل تخلیق و چا ته نه ښکاره کوم. دا ما ځان ته جوړ کړي دي، نورو خلکو ته نه.

ګوره روفي! که ته د دې تخلیقاتو مخ کتنه وکړې نو به ستا نوم په نړۍ کي خور شي، او ورسره ورسره به دي مالي ستونځه هم ختمه شي. تر څو به د بل جېب ته ګورې؟

ډاکټر صاحب! ته ولي په خبره سر نه خلاصوې؟ زما د دغسي کیسو سره نه لګېږي. او پاته شوه د جېب خبره نو ته بې فکره شه، زه یې له تا نور نه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاره ته خو سنجیده شوې، او دا دي ځنګه پر
څُله راغلو چي ته به وماته د جېب د خرڅ نۀ وایې،
بس دومره یاري؟

هو هو، ته بیا د نصیحت په آس کښېښستې. زۀ
رښتیا درته وایم، ما له خپلي دنیا مۀ باسه؟ د
دباندي دنیا خلګو ته ما مۀ ورښکاره کوه، زۀ په دې
دنیا کي ډېر خوشحال یم، روفي شا وخوا انځورونو
ته وکتل او دا خبره یې ورته وکړه.

روفي صاحب! چي کله خدای مۀ کړه مړ شې
نو به دي د دباندي دنیا خلک دباندي په یوه ادیره
کي خاورو ته وسپاري. له دباندي دنیا تېښته نشته،
په خبره سر خلاص کړه، ته ځان خطا باسې، ما نۀ شې
خطا باسی.

ته ډاکټر او زۀ مصور، څه ډاکټر صاحب
څنګه چي ستا خوښه وي، خو ټول خرڅ یې پرتا دی،
روفي په فېصله کن انداز کي ورته وویل.

بس نو ټهیک دی، خرڅ یې پر ما، د ځای
بندوبست یې پر ما، مېلمانه یې پرما، خو صرف ته
او ستا تخلیقات به هلته حاضر وي، څنګه؟

ډاکټر صاحب یو خبره درته وکړم؟

هو، خو د.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر صاحب! زهٔ د خلکو د سوالو نهٔ یم، ما د خلکو سره ژوند نهٔ دی کړی، تهٔ داسي وکړه دا ټول تخلیقات یو سه او پروګرام پـه وکړه، زما ټول اختیار ستا دی.

دا خو ټهیک خبره نهٔ ده، ډاکټر وویل.

ټهیک ده که غلطه، نور مي مهٔ تنګوه، روفي په خبره ټینګ ودرېدی.

سمه ده، تهٔ ګوره زهٔ ستا تخلیق او تا تر کومه ځایه رسوم.

ځو ورځي پس پـه یو شاندار هوټل کي د روفي د تخلیقاتو مخ کتنه جاري وه. ډېر زیات خلک چي نرینه او ښځینه وو دې انځورونو و کتلو ته راغلي وو. د دولتي ادارو لویو لویو چوکیو خاوندان، ډاکټران، د فوځ اعلی افسران یعني د هري طبقې خلک موجود وو.

ډېر اعلیٰ او ډېر ښکلی عکس، دا عکس خو ښېخي ډېر د متوسط طبقې عکاسي کوي.

هو خوري، واقعي ډېر شاندار تخلیق دی، تهٔ راځه مختـه وګورو چي څهٔ دي؟ دوې د پاخه عمر یعني تقریباً د پنځوسو کالو عمرو ښځو و یوه عکس ته ولاړي دا خبري کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میډم ماه جبین، دا انځور ستا نهٔ دی؟ یوې ښځې د بلې ښځې نه په حیرانتیا کې سوال وکړو.

هان، واقعي، په دې انځور کې خو زهٔ یم، دې مصور زهٔ چېرې لیدلې وم چې زما انځور یې جوړ کړو؟ میډم ماه جبین په حیرانتیا کې وویل.

میډم تهٔ د ښار د والي خور یې، کېدای شي چې یو ځای یې لیدلې یې. دویمې ښځې ورته وویل.

کېدای شي، خو بیا هم په دومره صفائي ځنګه کېدای شي؟ تهٔ درځه د دې پوښتنه د ډاکټر شیر نه وکړو.

درځه....

په خلګو کې یې ډاکټر شیر پیدا کړو. هغه یې دې انځور ته راوستو کوم چې د دې اولې ښځې سره مشابهه وَ. ډاکټر چې دا ولیدلو نو حیران پاتې شو.

یقین مې نهٔ راځي، ستا په خیال دهٔ به تهٔ چېرې لیدلې یې؟

زهٔ څهٔ ویلای شم چې چېرې؟

محترمې، دا اتفاقاً دی، ولې چې زما دوست بالکل د خپلې کوټې نه نهٔ راوځي، د هغهٔ د کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـامان او اوزار هـم زهٔ د بـازاره ورلـه راوړم، ډاکټـر پـه ځواب کي ورته وويل.

کـه دا اتفاقـاً دی نـو تـهٔ داسـي وکـړه چـي ماتـه د هغـهٔ د کـور پتـه اتفاقـاً راکـړه، زهٔ بـه دا پوښـتنه خپلـه ځني اتافقاً وکړم، ميډم ماه جبين ورته وويل.

محترمـي، ماتـه تـر سـبا وخـت راکـړه، زهٔ د هغـه نـه اجـازت واخلـم بيـا بـه تاتـه حـال درکـړم. ډاکټـر پـه سواليه انداز کي ورته ځواب ورکړو.

اجازت نو بيا ولي؟

هغـه د خلکـو سـره ملاقـات نـهٔ کـوي. تـهٔ نـهٔ ګـورې دی خپلـه پـه دومـره لـوی پروګـرام کـي نشـته.د دې وجه هم دا ده.

ټهيـک دی، تـر سـبا سـتا سـره وخـت شـته، او س تـهٔ دا انځـور وتـړه او زمـا کورتـه يـې را ولېـږه. او هـان، د دې قيمت څو دی؟

د دې قيمت به زهٔ په لسټ کي وګورم.

سمه ده.

ډاکټـر ولاړ شـي لسـټ وګـوري، بيـا يـو ځـوان تـه د انځور د تړلو ووايي.

روفـي يـاره قسـم مـي دي پـه خـدای وي سـم دم دي د والـي د خـور انځـور جـوړ کـړی ؤ، هغـې هـم ډېـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــو ښ شــو او مــا هــم پــه پنځــوس زره ورکــړو، ډاکټـر روفـــي تـــه لګيـــا ؤ او د مـــخ کتنـــي کـــارګزاري يـــې بيانوله.

ښـــهٔ، دا ځنګـــه اتفـــاق دی؟ حالانکـــه د والـــي خور خو لا پرېږده ما والي هم نهٔ دی ليدلی.

يـاره هغـې ستا پتـه غوښتله، مـا ورنـهٔ کـړه. څـهٔ وايې وريې کړم؟

نا،نا،نا خيال کوه، دا غلطي چي ونهٔ کړې.

نو بيا څهٔ ورته ووايم؟

ورتـه وايـه هغـهٔ دا ښـار پرېښـوی، نـهٔ يـم خبـر چـي کوم ښار ته ولاړی.

اې لېونيـه، هغـهٔ د والـي خـور ده، د هـري غـاري دي را ايستی شي.

بس تهٔ زما پته مهٔ ورکوه.

ســمه ده يــاره، اوس نــو پــه دې خوشــحالۍ کــي يــوه ښــه ډوډۍ رابانــدي وخــوره، دومــره حــق خــو لــرم، يار دوه لکهه روپۍ مي درګټلي دي.

خود،خــود ولــي نــهٔ، چېـري چــي وايــې هلتــه يــې دربانديخورم.

ځــو ورځـــي پـــس روفـــي بـــازار تـــه ولاړی چـــي رنګونـه واخلـي، د تخليـق د پـاڼي رخـت (کپـړه) يـې هـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمام شوی ؤ. د رخت دکان ته ولاړی، چې کله هلته یې رخت اخستلو نو یې په یوې ښکلي کم عمره جینۍ چې عمر یې غالباً څوارلس کاله ؤ باندي سترګې ولګېدې. داسي حسن و جمال دۀ پخپل ژوند کي چېري هم نۀ ؤ لیدلی، هغۀ توري غټې سترګې، سرۀ نري شونډان، روفي ورته په کتلو کتلو کي پاتي شو. زړۀ یې پرې بایلو، هغه د دۀ ارمان چې یو داسي انځور جوړ کړم چې زما په ژوند ما نۀ وي جوړ کړی، په پوره کېدو ؤ.

جینۍ یوې خواته روانه شي، روفي هم ورپسې روان شي. جینۍ په یوه اوږده کوڅه کي یو ډېر ښکلي کور ته ودرېږي، روفي لږ لېري پټ ودرېږي، په دې ټوله لار جینۍ روفي ته پام نۀ وي شوی. جینۍ هغه کور ته ننوځي، روفي هم خپل مئین زړۀ د ځان سره خپل د کور په خوا روان شي.

زر زر خپل د تخلیق اوزار سره راغونډ کړي، د تخلیق پرده پر فریم ولګوي، او خپله پر چوکۍ ورته کښېني. د حسن او کمال رنګونه ځان ته پر یو ټیبل کي ږدي. لګیا شي خپل د ژوند هغۀ لوی ارمان جوړول پیل کړي، کوم چې دۀ په خوب کي لیدلی وي. دوه ورځې پس ډاکټر شیر د دۀ کورته راشي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وګوري روفي لګيا يي خپل يو نوی تخليق پای ته رسوي.

ياره روفي، هغهٔ ضد کوي چې ماته د دهٔ د کور پته راکړه، زهٔ خو د دوو جهانو تر منځ شوم او يو تهٔ يې چې ماته هو نهٔ کوې ؟

ډاکټر صاحب! خيال کوه د هغې د جهان نهٔ شې، د دې جهان يعني زما د خوا شه، په ګټه کې به يې، روفي په انځور جوړولو کي مصروف دا خبره وکړه.

لاکن زهٔ وکړم څهٔ؟ هغهٔ دوه واره زما درملتون (کلينک) ته راغلې ده او هر وار ما هغې ته دروغ ويلي دي چې هغهٔ زما د تړي يار دی، ما د هغه کور نهٔ دی ليدلی.

ډېر ښه ډاکټر صاحب، ډېر ښه. خبري کول دي څوک له تا څخه زده کړي.

تر کومه به زهٔ دروغ ورته وايم؟

بس يو څو ورځې، بيا زهٔ خپله درته وايم.

ټهيک دی درې ورځې، د هغه پس زهٔ هغې ته ستا د کور لار ورښايم، سمه ده.

خو درې ورځې يې مهٔ ورښايه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـرې مـي ښـودلې، زهٔ اوس ځـم درملتـون تـه بيـا به ګپه کوو.

پـه مخـه دي ښـه ډاکتـره. د ډاکتـر د کـوټې څخـه د وتلـو پـر موقـع پـه لـوی غـږ يـې پـه طنزيـه انـداز ورتـه وويل.

هغــه د روفـــي د زړهٔ دنيــا يعنـــي هغـــه ښائســته جينـۍ پـه خپـل کـور کـي ناسته د پـر رخت باندي غمـي لګـوي چـي د کـور دروازه وټکيـږي،د کـور د دننـه څخـه هغه جينۍ غږ وکړي چي ، څوک يې؟

د دروازې دبانـــدي څخـــه، مـــوره ستاســـو ډاک دی، زهٔ د ډاک والا يم.

ښـــه وروره، دروازه لـــږه خلاصـــه شـــي، هغـــه جينـۍ پـه ټکـري کـي پټـه راووځـي، ډاک والا هغـې تـه پـه کاغـذ کـي پـټ يـو لـوی فـريم ورکـړي. هغـهٔ دا فـريم خپلـي کـوټې تـه يوسـي. پـه فـريم هـيڅ يـوه د راسـتولو والا پتـــه نـــهٔ وي ليکلـــې. دا حيرانـــه شـــي چـــي دا چـــا راليږلـــی دی؟ داســي نـــهٔ چـــي د ډاک والا غلـــط شـــوی وي. کلـه چـي هغـهٔ د فـريم څخـه کاغـذ لېـري کـړي نـو حيرانـه ګوتـه پـه خُلـه شـي. هغـهٔ دا فـريم پـه يـوه چـوکۍ کښـېږدي او خپلـه مخـامخ پـه بلـي يـوې چـوکۍ ورتـه کښـېني. رڼه بـڼه دې فـريم تـه چـي پـه کـي د دې انځـور

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، ګوري. دا د ځانه سره چې دا چا رالېږلی دی؟ زۀ يې چېري ليدلې يم؟ او دومره ښائسته انځور هغه هم په لاس جوړشوی، څوک کېدای شي؟

د جينۍ په لاس کې يو خط دی، هغه خط ډېر په غور سره لوستي، د خط متن دا دی،

ښې چاري،

هيله لرم چې روغه جوړه به يې. تۀ به حيرانه يې چې زۀ به څوک يم، او له تا به څۀ غواړم. خو دومره درته وايم چې زۀ هغۀ څوک يم کوم چا چې ستا انځور جوړ کړی ؤ او بيا يې د هغه انځور رنګين نقل (فوټوستيټ) تا ته در ولېږی. زۀ له تا هيڅ نۀ غواړم او نۀ ځان در ښودلی شم، ولې چې دا زما مجبوري ده.

په درنښت،والسلام

انځورګر

جينۍ خط ته ډېره حيرانه وه، خدای خبر دې خط ولې دا دومره ځانته متوجه کړې وه، حالانکه په دې خط کې داسې هيڅ هم نۀ ؤ.

ياره تۀ خبري ته غوږ شه، تۀ داسې مۀ کوه، دا تۀ د ځان سره او د خپلو مئينانو سره ډېر بد کوې. له ماسره خو بيا بېخي ډېر بد کوې، تۀ مۀ کوه داسې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـهٔ ځـه، دلتـه سـتا د هنـر ډېـر زيـات اهميـت دى، ډاکټـر و روفـي تـه زارى کوي.

بلـي خـوا تـه د والـي خـور د خپـل کـور پـه يـوه ښـکلې کوټـه کـي ناسته خپـل و تصـوير تـه يې ځيـر ځيـر کتل او د ځان سره داسي ګويا وه.

څـومره پـه هنـر او کمـال يـې دا تصـوير جـوړ کـړى دى، څـومره اخـلاص او مينـه پـه دې تصـوير کـي ځرګنـدېږي. کـاش چـي مـا تـهٔ ليـدلى واى انځـور ګـره، کـاش. تـهٔ څـهٔ خبـر يـې چـي زهٔ سـتا د لاس پـه هنـر مئينـه شـوې يـم. مـا هيڅکلـه هـم لـه چـا سـره داسـي مينـه نـهٔ ده کـړې، انځـورګره يـو وار پـه مـا ځـان ووينـه، يـو وار، انځـور ګـره يـو وار. د دې خبـرو سـره سـم دې خپـل تـور او سـپين وېښـتان چـي د دې پـر مـخ يـې يـو څـو تـاره را ايله شوي وو سم کړل.

ډاکتـر صـاحب ! زهٔ مجبـور يـم، تـهٔ زمـا پـه حـال نـهٔ يـې خبـر، زمـا د شـپې خـوب او د ورځـي سـکون بربـاد دى، او دغــه دوو تخليقــو خــو زهٔ بالکــل لــه کــاره ايسـتلى يـم. يـو هغـهٔ چـي زمـا خيـالي تخليـق ؤ او بـل هغـهٔ چـي زمـا د ژونـد ډېـر مهـم او د ارمـان تخليـق ؤ، زهٔ بې لـه دې بلـه لاره نـهٔ لـرم. روفـي ډاکټـر تـه پـه ځـواب کـي وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ستا په لاسو مینه شوې ده، هره ورځ زما درملتون ته راشي او ستا پته راڅخه غواړي، زهٔ هر وار یوه نه یوه پلمه ورته جوړه کړم. تهٔ یو وار خو د هغې سره ملاقات وکړه. یاره هغه د والي خور ده، کېدای شي ستا هره ستونځه حل کړي. ډاکټر په خوشامدي اندازکي ورته وویل.

ډاکټر صاحب منمه، هغهٔ به زما پر لاسو مینه وي، منمه هغهٔ به زما هره ستونځه را حل کړي، خو ډاکټر صاحب ، ستا له خُلې هغهٔ په عمر ترما ډېره مشره ده، زهٔ د هغې د اولاد پر ځای یم .

او تهٔ چي پرچا مئین یې هغهٔ؟ ډاکټر یودم د دهٔ د خبرو په منځ کي پوښتنه وکړه.

هو، منم هغه زما د اولاد پر ځای ده، په دې خو مي د تېښتي لاره خپله کړې ده. څوک چي له ماسره مینه کوي هغه مي د مورد عمر ده، او د چا سره چي زهٔ مینه کوم هغهٔ زما د لور په ځای ده. ډاکټر صاحب تهٔ ورځه خپل مریضان ګوره، ستا یې ډېر کورودان چي په هر ګام دي زما کومک کړی دی. ما او زما تقدیر پرېږده، زهٔ چي چېري ولاړم، مهٔ راپسې ګوره او مهٔ حال راپسې کوه، دا به ستا پر ما ډېر لوی احسان وي. روفي د خفګان په اندازکي ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې پس د والي خور د ډاکټر شير و درملتون ته راغله، هغې نن دا پرېکړه کړې وه چې نن به د ډاکټر نه د انځور ګر پته اخلي.

درملتون ته د راننوتو سره سمه و ډاکټر ته يې په ګيله من انداز کي وويل.

ګوره ډاکټر صاحب! ته ماته د هغه سړي کور ولي نه را ښيې؟ څه کيسه ده؟ که څه مشکلات دي نو زه به يې د حل کولو پوره پوره کوشش وکړم. زه د هغه سړي د لاسونو ديد کول غواړم په کومو لاسونو چې هغه زما انځور تخليق کړی دی.... د والي خور د ډاکټر شير په درملتون کي ناسته ډاکټر شير ته مخاطبه وه.

هن، ستا د پاره روفي صاحب دا خط رالېږلی دی.

ډاکټرشير د والي و خور ته يو خط ورکړی، د دې خط متن دا ؤ،

قدرمني ښې چاري،

هيله مند يم چي جوړه به يې، زما له تاسره ملاقات شايد په نصيب نه ؤ. زه مجبور وم چي ماله تا سره ملاقات نه کوو، د هغې وجه به ډاکټر صاحب پخپله درته بيان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما او زما خیال د زړۀ وباسه. خپل ژوند زما په یاد کي مۀ بربادوه،

فقط انځورګر

هم په هغۀ ورځ د جینۍ په لاس کي یو خط ؤ، هغې ډېر په ارمان دا خط لوستی. د خط متن دا ؤ.

سلامونه او ښې چاري

هیله لرم چي روغه، جوړه او خوشحاله به یې. دا زما اخري خط دی، دې نه وروسته به تا ته هیڅ یو خط یا بل څیز زما له خوا نۀ شي در، زۀ خپل مقصد ته ورسېدم، هغۀ مقصد ستا د جمال ؤ، نور زۀ تخلیق نۀ کوم او د دې ښاره څخه لېري بېخي لېري ولاړم، دومره لېري چي د انسان کرکه ځني کېږي. زۀ پوهېږم چي تۀ زما د لیدو او پېژندو ډېر ارمان لرې، خو ما لیدل او پېژندل زما تخلیق دی، ستا د دعا په هیله،

فقط انځورګر

26,04,2015
کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځان مرګی

داسې بختور ځوان ما په ټول ژوند نهٔ وُ لیدلی. ډېر ښائسته ځوان وُ، په عمر خام، د څوارلسو کالو به وُ. یو څو تاره وېښته یې په زنه راغلي وو. پلار غریب نواز دی په مدرسه کې داخل کړی وُ چې زوی مې د قرآن حافظ او ښهٔ لوی ملا جوړ شي. د قرآن حافظ خو جوړ شو لاکن دیني درس یې په ړومبي پړاؤ کې وُ. د دهٔ په مدرسه کې یو طالب چې په عمر پوخ وُ نازک نومېدی دوی ته به یې درس ورکاوه. د مدرسې مهتمم په اوونۍ (هفته) کې یو وار مدرسې ته هغه هم د زیارت (جمعرات، پنج شنبه) په ورځ راتلی. په هیڅ به یې ځان نهٔ خبروو چې څوک راځي څوک ځي، ولې چې هغه په نورو مدرسو کې هم درس ورکاوه.

"اولس" په درس کې ډېر ښه وُ، حافظه یې ښهٔ تېزه وه. په وطن کې ډېر خوني حالات روان وو، هره ورځ بم چاودني، ځان بریدونه، خلک وژنه، داسې حالات چې تهٔ وایې د استقلال جنګ روان دی.

څو ورځې مخکې اولس کورته راغی. مور او پلار یې ډېر خوشحال وو. ښې مېوې، غوښې، وریځې یعني هر قسمه نعمت یې پلار غریب نواز په ډېره غریبۍ کې دې زوی له راوړي وو. اولس صرف د یوې شپې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره راغلی ؤ. موریې غوښت چي ډېري شپې وکړي، خو اولس ورته ویل چي موره، زما هلته سبقان پاته کېږي، اوس هم زهٔ د مهتمم صاحب نه په پټه راغلی یم، صرف ستاسو دید له.

د خدای کارؤ، شپه تېره شوه، د سهار په سپېدو کي اولس د موراو پلار نه اجازت واخستی او د مدرسي په لور روان شو.

موړ چي په دې هېواد کي خپل ځانونه قربانوو، دا صرف او صرف د اسلام د بقاء د پاره. د دې هېواد خلګ کافران شوي دي. تاسو ورته وګورئ د نرانو یې رېري نشته، پتلونونه یې په پښو دي، هغه د کافر جوړ کړي ښوونځي او پوهنتونته ځي. په ښځو هم تعلیمونه کوي. په بازاررو کي د کفارو په شان ګرځي، مسجدونه یې هم د انګرېزانو په طرز جوړ کړي دي. دا دغسي نهٔ سمېږي، دا جهاد غواړي، په یوه کوټه کي په عمر غټ یو طالب د یو څو نورو طالبانو سره ناست دا خبري کولې.

مومنانو! زما خبره یاده ساتئ، که تاسو نن د دې کافري زماني خاتمه ونهٔ کړه نو راروان مسلمان نسل به تاسو هیڅ کله هم معاف نهٔ کړي. او په اخرت کي به و خدای او رسولؐ ته څهٔ ځواب ورکوئ. نن ډېره مبارکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ ده، زموږ یو مومن ورور روان دی جنت ته، تاسو ورسره خدای په اماني وکړئ.

له دې ساعت پس طالبانو ځوان طالب ته مبارکي او ورسره یې خدای په اماني کوله. ځوان طالب هم ډېر خوشحال ؤ چي روان یم جنت ته، هیڅوک یې نهٔ ؤ په یاد. دا غونډه د مدرسې په یوه کوټه کي د مهتمم صاحب نه په پټه کېدله. صرف په شمېر لس یا پنځلس کسان په کي ناست وو.

په تېر وار موږ ډېره کامیابي تر لاسه کړه، د یوه تن د قربانۍ په وجه د دښمن مو تر دېرش هم زیات نفر ختم کړل. یو طالب و بل طالب ته ویل.

انشاالله د دې واره به تر سلو هم زیات وي. دویم طالب په مسکي کي ورته وویل.

هم دغه د جمعې ورځ وه، ځوان طالب د بارودو واسکټ اچولی ؤ. د دهٔ ملګرو دی تر تهاکلي ځای ورسوو، د دهٔ تهاکلی ځای یو مسجد ؤ. د جمعې د لمانځه د پاره بېخي ډېره دنیا راغلې وه. په مسجد کي سم د ناستي ځای نهٔ ؤ. چا اودس تازه کړی مخ او لاس یې وچول، څوک یې څادر په سر د لمر نه یې ځان پناه کولو، څوک یې وې خوا ته ولاړ د مولانا صاحب و وینا ته یې غوږ نیولی ؤ، څوک یې د صفونو په منځ کي غلي په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتظار ناست وو چې څنګه جماعت ودرېږي نو به په صف کې شامل شي. او ډېر خلک د مسجد د دروازې سره په دې انتظار ولاړ وو چې مولانا صاحب بیان ختم کړي نو به ځای پیدا کړي. طالب جان هم یوې خوا ته غلی ولاړ ؤ او په دا انتظار ؤ چې څنګه جماعت ودرېږي نو به خپل کار ترسره کړي. دهٔ د مولانا صاحب په خبرو غوږ نیولی ؤ. کله کله به یې فکر د جنت خوا ته ولاړ ی، دهٔ به لیدل چې ښائستې ښائستې حوري او ښکلي ښکلي غلمان د دهٔ په انتظار ګلان په لاس کې ولاړ دي. دی ولاړ ؤ، هر څه د دهٔ په لاس کې ؤ، د واسکټ د بم بټن د دهٔ په اختیار کې ؤ. دهٔ جنت په سترګو لیدی. کله کله به یې دا هم فکر ته راغلل چې په دې مسجد کې چې څومره کسان دي دا ټول کافران دي، زهٔ پر حق یم، زهٔ به نن ځان قربانوم، زهٔ به دا کار ضرور کوم.

مولانا صاحب په منبر ناست د خدای او رسولﷺ د لارې خبرې کولې او په ډېره عاجزۍ سره ناستو خلکو ته مخاطب ؤ.

زما مسلمانانو ورونو! الله چې کوم وجود موږ ته راکړی دی، دا د الله امانت دی. انسان د الله خلیفه دی، مسلمان د بل مسلمان ورور دی، هیڅ یو انسان ته حق نشته چې بل انسان وځوروي او یا یې بې ګناه قتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. د داسي عمل کولو والا انسان نه به الله په ورځ د اخرت پوښتنه کوي. که څوک تاسو وینی چي هغهٔ غلط کار کوي نو ورشئ او ورته یې پوهه کړی او که نهٔ شو سم نو بیا قانون شته، دا یو اسلامي هېواد دی، هغه ته به سزا ورکول کېږي، او بله خبره دا ده چي د دین د خورولو واحده ذریعه دعوت دی، د الله نبي ﷺ ټول عمر دعوت چلولی دی، منم چي جهاد یې هم کړی دی او جهاد کول فرض دی، خو د چا سره؟ د هغه چا سره چي ستا وطن ته نقصان رسوي، ستا عزت ته نقصان رسوي، ستا مال ته نقصان رسوي او تر ټولو مهمه دا چي ستا و دین مبین ته نقصان رسوي. دا چي نن سبا پر موږ باندي کفر مسلط شوی دی، دا ټول زموږ عملونه دي، عمل سمول پکار دی، د الله د لاري نه ځان خبرول پکار دی، په قرآن عظیم باندي ځان پوهه ول پکار دی، په سپېڅلي حدیث مبارکه باندي ځان پوهه ول پکار دی، د اصحابهؓ د امامانو په پاک ژوند باندي ځان خبرول پکار دی، د بزرګانو په محنت او اخلاص ځان خبرول پکار دی. چي کله تهٔ په دي ټولو لارو ځان خبر کړې نو به درته څرګنده شي چي کومه لاره صحیح ده او کومه غلطه. الله رب العالمین دی، صرف رب المسلمین نهٔ دی، هغه خو د انس او

(c) ketabton.com: The Digital Library



جـنس، د اسـمان او ځمکـي، د مرغـانو او ماهیـانو، د مـال او ځناورو، د ټولو رب دی.

څـوک بـه دا بـې خبـره پـه دیـن خبـروي؟ بایـد مـوږ هغـو تـه د الله او د رسـول ﷺ لاره ورو ښـایو، پـه خُلـه او پـه عمـل د دیـن خبـره ورورسـوو، څـوک چـي د دې لاري نـه خبـر نـهٔ دي، او کـه بیـا هغـوی نـهٔ راسـره منلـه او د الله او د الله د رسـول ﷺ د دیـن مبین پـه لاره کـي خنـډ وو نـو بیـا نـوري لاري هم شته چي هغه ته جهاد وایي.

دې خبـرو پـه طالـب ډېـر اثـر وکړو. او ښـکي یـې د سـترګو نـه رواني شـوې، کـرار کـرار د منبـر خواتـه ورغـی، هلته یې مولانا صاحب ځان ته متوجه کړو چي،

مولانا صاحب! زهٔ یوه خبره کول غواړم؟

څنګـه خبـره بچیـه؟ مولانـا صـاحب هـم خپلـه خبـره پرېښوده او طالب ته متوجه شو.

طالـب پـه کـراره د ځـان نـه څـادر لیـري کـړو، خلګـو چـي وکتـل چـي دا خـو ځـان برید (خودکش حملـه آور) دی نـو ټـول سـره وغورځېـدل، چـا کومـه خـوا چـا کومـه خوا منډې وهلې، چیغـي جـوړي شـوې، خلـک یـو پـه بـل کـي سره ختـل، اخ او درب جـوړ شـو، خـو مولانـا صـاحب پـه خپـل ځای کرار ناست ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالب ناري وهلې چې ودرېږئ، زهٔ ځان نهٔ چاودوم، زهٔ تاسو ته خبره کوم، ودرېږئ، خبره واورئ، حکومت ته ځوک حال ورکړئ چې ژر راشي، حکومت خبر کړئ، ډېر زيات شور او غوغا جوړه شوه. په دې ساعت کې مولانا صاحب هم پوهه شو چې دا ځوان ځان نهٔ چاودوي نو يې په خلکو غږ کړو چې،

ودرېږئ، ودرېږئ، منډې مهٔ وياست، خبره واورئ.

خلک هم د مولانا صاحب په ويلو ودرېدل، خو ډېر کم خلک وو چې ولاړ وو، طالب خپله خبره پيل کړه،

پر ما د دغه مولانا صاحب خبرو اثر وکړئ، ګنې ما به له وخته ځان چاودنه کړې وای. ما ته په مدرسه کې هيڅ کله هم داسي خبري نهٔ وې شوي کله نن چې ما د دغه مولانا صاحب د خُلې نه واورېدې. زما په دماغ کې يې دا اچولي وو چې تاسو ټوله کافران ياست، مسلمانانو ما معاف کړئ، زهٔ اوس بېرته هغه ځای ته نهٔ شم تلای د کومه ځای چې راغلی يم، تاسو مهرباني وکړئ حکومت خبر کړئ، زهٔ ځان حکومت ته حواله کوم.

د طالب جان خبري شروع وې چې د حکومت خلک راغلل، طالب يې د ځان سره روان کړی او په ګاډۍ کې يې خدای خبر کوم ځای ته بوتلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقریباً د یوه ساعت پس په یوه کوټه کې طالب د حکومت د دوو کسانو سره ناست دا خبرې یې کولې. هغوی د دهٔ نه دا پوښتنې کولې.

اول کس: ستاسو مشر څوک دی؟

طالب: زهٔ نهٔ یم خبر.

دویم کس: تاته د دې کار چا ویلي ؤ؟

طالب: ملا نازک.

اول کس: ملا نازک څوک دی؟

طالب: هغه زموږ په مدرسه کې موږ ته درس راکوي.

دویم کس: ستاسو مدرسه چېرې ده؟

طالب: زموږ په کلي کې، یعني په خان کلي کې

اول کس: نور ملګري مو څوک دي؟

طالب: په رنګ یې پېژنم خو په نامه یې نهٔ پېژنم.

دویم کس: ملا نازک د کوم ځای دی؟

طالب: هغه څو میاشتې کېږي چې د ګاونډي هېواد نه راغلی دی.

اول کس: د دې له مخه مو څو داسې بریدونه کړي دي؟

طالب: درې.

دویم کس: تا ولې ځان برید نهٔ وکړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالـــب: د دې لـــه مخـــه زهٔ پـــه حقیقـــت نـــهٔ وم خبـــر، ماتـــه دا ویـــل شـــوي وُ چـــي د دې هېـــواد یعنـــي زمـــوږ د هېـــواد خلـــک کـــافران دي، او د کـــافر وژل نېـــک کـــار دی، دې ته جهاد وایي او جهاد فرض دی.

دویم کس: او س ستا څهٔ خیال دی؟

طالـــب: او س زهٔ پـــه حقیقـــت خبـــر شـــوم چـــي کـــافر څوک دی او مسلمان څوک دی.

اول کس: ستا نوم څهٔ دی؟

طالب: زما نوم "اولس" دی.

07,06,2016
کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عیاشي

لــه تېــر ماخوســتن راهیســې پــه خپلــه کوټــه کــې پـروت عقیـل پـه مټـې غرمـه تـه سترګي خلاصي شـوې، د زیـات خـوب او شـراب د څکلـو پـه وجـه یـې سترګي تکـې سـرې او بښـتې وې. کلـه چـې دهٔ فکـر او کـړو نـو یــې دمـاغ کـار شـروع کـړو او پروني ټـول واقعـات یـې نـا ببره سترګو تـه ودرېـدل. هغـه د زبېـر پـه کـورکې د زبېـر لـه خـوا جـوړ شـوی پروګـرام چـې پـه کـې موسـیقي، شـراب، کبـاب او شباب یـو ځـای ول ورپـه یـاد شـول. د عقیـل پـر تندي یـو دم د خولــو څــاڅکي را روانــي شــوې. هغــه غټــه غټــه ســاه اخسته او د ځانه سره ګویا شو چې؛

فــواد؟ فــواد، پــه فــواد څــهٔ وشــو؟ او زهٔ دلتــه چــا راوستم؟

پــه دې خبـره حیـران ؤ چــې زهٔ خـو پــرون ټولــه ورځ د زبېـر پـه کـور کـې وم او تـر مـازدیګر مـې یـاد ېږي چـې هـم هلتـه وم. نـو بیـا دلتـه څنګـه راغلـم او چـا راوستم؟. پـه ځـان نـهٔ پوهېـدی چـې څـهٔ کیسـه ده. عقیـل هـم پـه دې فکـر کـې ؤ چـې د کـور ور وټکېـدی. د عقیـل مـور د کـور پـه غـولي کـې ولاړه وه او غږیې باندي وکړو.

څوک یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



موره عقیل په کور کې دی؟ د دباندې نه غږ راغی.

هو، پر کور دی.

یو وار ور غږ کړه چې ملګري دې غواړي. د دباندې نه غږ راغی.

سمه ده.

عقیل د ور په ټکېدو سره د بسترې نه راپورته شو. څپلۍ یې په پښو کړې، په کراره او په درونو سر د کور د ورۀ خوا ته ورغی. کله چې غولي ته ورسېدی نو موریې ورته وویل چې؛

عقیل جانه! دباندې ملګري درته ولاړ دي.

څوک دي؟

نۀ یم خبره، تۀ ورشه وې ګوره. او هن ورکېږه مۀ، بېرته زر راشه، د پلار د راتلو وخت دې دی.

سمه ده موره، یو خوا ته هم نۀ ځم.

عقیل مورته د ځواب ورکولو پس د کور ور خلاص کړو، د ور د خلاصېدو سره یې د ځُلې ووتل. څوک غواړې تاسو؟

تا غواړو عقیل جانه! راځه نن له موږ سره مېلمه یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عقیل سترګې رډې راوختې، ژبه نګوې بند شو. خو بیا نابېره ګویا شو چې؛

ما هیڅ نهٔ دي کړي، زهٔ له تاسو سره نهٔ ځم.

څنګه نهٔ ځې، ځې خو به ستا پلار هم. هلکه دلبره! وایې چوه ګاډۍ ته.

راغلي خلک پولیسان وو. دلبر سپاهي هم دې امر ته تیار ولاړ ؤ چې ایس ایچ او امر راته وکړي نو به زهٔ خپل کار ترسره کړم. عقیل یې په یو بنیان او پرتوګ کې په ګاډۍ کې کښېنوی، عقیل په ګاډۍ کې ناست چیغې وهلې چې؛

ما هیڅ نهٔ دي کړي، زهٔ په هیڅ نهٔ یم خبر.

ګاډۍ ولاړه، مورېې هم دا چیغې واورېدې، د کوره پسې ووتله خو ګاډۍ تللې وه او دا په سرو سترګو هغسې په کوڅه کې ولاړه پاتې شوه.

لږ ساعت وروسته پلار یې کورته راغی، خدای خبر چا خبر کړی ؤ چې زوی دې پولیسانو یوړی. د عقیل پلار په یوه دولتي اداره کې یو لوی افسر ؤ، سم د لاسه د تهانې په خوا ورپسې روان شو. تهانې ته چې ورسېدی نو چې کتل یې عقیل په حوالات کې په سرو سترګو ناست دی او ورسره زبېر هم ناست دی. ایس ایچ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د عقیل د پلار ښه خاطرداري وکړه. د عقیل پلار د ايس ايچ او نه پوښتنه وکړه چي؛

ايس ايچ او صاحب! تاسو دا هلکان په کوم جرم کي دلته راوستي دي؟

محترمه! که مي درته وويل نو به دي د وجود ټول وېښتان جګ جګ ودرېږي.

بیا هم تهٔ راته ووايه چي څهٔ کیسه ده.

کیسه داسي ده چي هغه هلک وينې؟

هو، زبير، زهٔ يې پېژنم، زما د ملګري زوی دی او ډېر ښه هلک دی.

دې ډېر ښه هلک او ستا زوی پرون سهار د زبير په کور کي پروګرام جوړ کړی ؤ چي په کي شراب، کباب او شباب ټوله ورځ استعمالېدل. شراب تر مازدیګره بهېدل، کباب ټوله ورځ د خېټي دوزخ ډکاوه او شباب هم د دې دوو ځيزونو سره تر آخره ښه په مستۍ کي ؤ.

ايس ايچ او دا خبري کولې چي د عقیل پلار خبره ور پرې کړه.

سر زما سر ستا په خبرو نهٔ خلاصېږي، تهٔ ما لږ په اسانه ټکو پوهه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په اسانه ټکو کیسه دا سي ده چي ستا زوی او دا ښه هلک زبیر، پرون سهار د زبیر کور ته یوه جینۍ راوستلې وه. دوی چي کله خپل هوس سوړ کړو نو یې ماسپښین خپل یو بل ملګری چي فواد نومېدی ته حال ورکړو چي هغه هم راشي او له موږ سره په دې خوند کي شریک شي. کله چي فواد د خپل هوس د سړېدو د پاره و هغه جینۍ ته ورغی کومه چي په یوه بېله کوټه کي وه نو نابیره مړ شو. د جینۍ د ماغي توازن خراب دی او هغه د ځنګ په حوالات کي ده او د ځان سره ګډې وډې خبري کوي.

د عقیل پلار بیا خبره ورپرې کړه چي؛

سر! تاسو ته دا خبري چا وکړې؟

ماته زبیر دا ټولي خبري پخپله وکړې. ستا د زوی په هکله هم هغه راته وویل چي دی له ما سره پرون ټوله ورځ په دې پروګرام کي شریک ؤ. د زبیر د نیولو مخ کي موږ ته د محلې خلګو اطلاع راکړه چي د حاجي صالم په کور کي له سهاره راهیسې په زوره غږ ساز غږېږي او اوس ورته یو ایمبولنس هم ودرېدی چي په کي یو هلک یې د هسپتال په خوا یوړو. موږ چي کله جاه وقوعه ته ورغلو نو یوه جینۍ مو برامده کړه، بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي کله هسپتال ته ورغلو نو هلته ستا زوی نهٔ ؤ صرف زبېر ؤ چي موږ ګرفتار کړو.

نو ستا څهٔ خیال دی چي دا مړی دوی کړی دی؟

نا ،نا ، مړی دوی نهٔ دی کړی. په هغه هلک خو د زړهٔ دوره راغلې وه او ځای په ځای مړ شوی ؤ.

چي په هغه د زړهٔ دوره راغلې وه نو بیا تاسو دا هلکان ولي ګرفتاره کړو؟

د دې ګرفتارۍ وجه دا ده چي فواد د هغې نیولي شوي لېونۍ جینۍ ورور ؤ ،فواد نهٔ ؤ خبر چي زبېر او عقیل زما خور ماته د عیاشۍ د پاره په کوټه کي کښېنولې ده، فواد چي خور ولیدله نو سم د لاسه اټیک شو او خور چي فواد ولیدلو نو له وېري او صدمې لېونۍ شوه.

14,04,2016

کوټه

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**